بسم الله الرحمن الرحيم

# د صحرا بادونه

افساني

**فيروز افريدے**

حقوق د مصنف په حق کښې خوندي دي


## د کتاب پېژندګلو:

د کتاب نوم: د صحرا بادونه

مصنف: فيروز افريدے

د چاپ کال: دسمبر ۲۰۱۹ء

شمیر: 500

ټائيټل: عامر ياد

بيعه: 150

پروف ريډنګ: مراد علي مراد

چاپ چارې: منګل کتاب کور- محله جنګي- پېښور

Adnanmangal7@gmail.com

0311-9071368



## درکونه:

1: فيروز آفريدے نواب آباد سپينه وړۍ پوسټ آفس يونيورسټي ټاؤن پېښور د رابطې نمبرې 0300-9008009,0337-7177221
Fka_2000@yahoo.com

2: مراد علي مراد شيخ آباد خارخوري ټيله بندروډ ځنګلي کوهاټ روډ پېښور 0314-9881825,0345-9133446


www.pukhto.net

# لړلیک

| شمیر: | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱: | د صحرا بادونه.... اسیرمنګل | ۲ |
| ۲: | د فیروز خان افریدي افسانې...امان الله نصرت | ۱۱ |
| ۳: | د فیروز افریدی افسانې ....مرادعلی مراد | ۱۴ |
| ۴: | د مصنف خبرې.....فیروز افریدے | ۱۷ |
| ۵: | استاذ | ۲۲ |
| ۶: | نامرد | ۳۵ |
| ۷: | د ژوند په ضد پرلت | ۴۷ |
| ۸: | کفاره | ۵۴ |
| ۹: | انجام | ۶۰ |
| ۱۰: | ریزګاری | ۷۸ |
| ۱۱: | څلور ملین کراون | ۸۴ |
| ۱۲: | غازي که شهید | ۱۰۰ |
| ۱۳: | پینزیب | ۱۰۲ |
| ۱۴: | منافقت | ۱۱۵ |
| ۱۵: | د نفس کارۀ مخونه | ۱۱۹ |
| ۱۶: | ګلوبل ویلیج.. | ۱۲۰ |



## دصحرا بادونه

فیروز افریدے دپښتو ژبې او ادب په هاغه لیکونکیو کښې شمار لے کیږي چې نه یوازې خپل قلم ئې روان ساتلے دے۔ بلکې په دوحه قطر کښې ئې دپښتو ژبې او ادب دپرمختګ دپاره په زړهٔ پورې کار کړے دے او کوي ئې ,اوخوش قسمتي ئې دا ده چې الله تعالی ورته ډېر خواږهٔ او درانهٔ پښتانهٔ ملګري وزیر بادشاه جانان،شپون مومند ،اروانښاد امت بنګښ اوځینې نور چې نومونه مې له یاده وتي دي،ورکړي وو ۔ دوئ په هره حواله دپښتو ژبې او ادب شاعران او ادیبان نازولي دي په دوحه کښې ئې ډېر د اوچتې پائې علمي ادبي او ثقافتي غونډې راجوړې کړې دي چې یوازې په دې موضوع د پي ایچ ډي مقاله لیکلے کیږي، د یوې غونډې میلمستیاپیرزوینه ئې په ما هم کړې ده۔

ښاغلي فیروز آفریدي په ادب کښې خپله پیژندګلو دیو شاعر په حیث کړې ده دې نه پس ئې دنثر ابتدا هم وکړه چې ځینې ډېر ښه او ښکلي کتابونه ئې ډېر په لړوخت کښې لوستونکیو ته ورکړل اوس خپلې افسانې چاپ کول غواړي۔

www.pukhto.net

پښتو افسانې سل کاله مزل کړے دے ۔ په دې وخت کښې چې ځومره کار وشو یقیناً چې هغه دستائیلو وړ دے ۔ دګران فیروز آفریدي لنډې قیصې تشې قیصې نه دي دپښتنې ټولنې په ټيټو جګو ئې په فنکارانه توګه رڼا اچولې ده اؤ دې سره سره ئې د مغربي نړۍ د عیاشۍ خبر هم اخستے دے چرته چې زیات خلق Live in Lifeیعنې د عیاشۍ وخت تیروي د انساني نسل دبقا فطري اصولو نه سرغړونه کوي بوائے فرینډ او د ګرل فرینډ یو مصنوعي کلچر ئې متعارف کړے دے، دغه وجه ده چې په مغربي دنیا کښې ځوک په اله اسانه وادهٔ ته په دې غاړه نهٔ ږدي چې ښځې او نر ته دومره ازادي ورکړې شوې ده چې هغوئ دوادهٔ په ځائے عیاشۍ ته ترجیح ورکوي،وادهٔ ورته یوه جیل خانه ښکاري سړے ښځهW.I.F.Eیعنې Wonderful Instrument For Enjoyment ګڼي اودغسې په دې زغل کښې ښځه د سړي نه هم یودوه قدمه وړاندې وي چې په نتیجه کښې ئې ابادي Minus کښې روانه ده خلق ئې یو کال نه بل کال ته کمیږي. دا د موجوده وخت د ترقي یافته هیوادونو یوه لویه ستونزه ده چې په چل ئې نه پوهیږي،د بد قسمتۍ نه چې زمونږ ځینې زلمي د روزګار په لټون کښې هلته لاړ شي نو هغوئ هم ځانونه ددوئ په رنګ کښې رنګ کړي،دغه مسئله افسانه نګار"نامرد"کښې ډیر په ښکلي انداز کښې افسانه کړې ده چې یوه جینۍ د یو داسې هلک سترګې وغړوي چې هغه لکه حیوان صرف او صرف ښځه د عیاشۍ یو مشین ګڼي۔

"د ژوند پرضد پرلت" که هر ځود اردو د یوې افسانې نه



ماخوذ افسانه ده ولې دغه لنډه قیصه هم د موجوده دور د یوې بلې اهمې مسئلې طرف ته د لوستونکیو پام راګرځوي چې نن سبا په تعلیم یافته زلمو کښې مذهبي بیزاري ډیره زیاته په نظر راځي چې بنیادي وجه ئې د سرمایه دارا نه نظام پلویان دي دغه ډله چې په کومه طریقه د خپلو ذاتي ګټو دپاره مذهبي کارډ کاروي دهغې له کبله د خلقو زړونه د مذهب نه توریږي ,, کفاره،، د طبقاتي اړي ګړي په نتیجه کښې لیکلې شوې یوه لنډه قیصه ده چې زمونږ دټولنې یوناسور قبضه ګروپ ځرګندونه هم کوي,, استاذ،، یوه کرداري افسانه ده چې پکښې ئې دیو منفرد ژوند تیرونکي استاذ نفسیات انځور کړي دي او ډیر په کمال ئې د افسانې انجام په یوې وړې جملې داسې ختم کړے دے

ستا د املا ټولې غلطۍ مې درته په سور قلم درستې کړې۔

"انجام" د یوې رینښتونې قیصې روداد دے په قطر کښې د یو اوباش پښتون زلمي قیصه ده چې دافسانې نه زیاته یوه عامه قیصه ښکاري

,,ستا د املا ټولې غلطۍ مې درته په سور قلم درستې کړې،،

دښاغلی فیروزافریدی ځینې لنډې قیصې هغه واقعاتی قیصې دی چې په دهٔ تیرې دی ـ دغه ا فسانې دفن اوهنر دومره خوارهٔ نهٔ لري لکه ،انجام ، او ریزګاري، ولې بیاهم د اهمیت نه ئې انکار نهٔ شي کیدے

"ځلورملین"دا د نوازچوهدری دافسانې ژباړه ده۔دمغربی هیوادونوهغه رویې انځوروی چی هغوئ همیشه دمسلمان ذلیله

کؤلو دپاره اسلام ټارګټ کوی ـدا قیصه د ناروے دخلقو د اسلام اومسلمانانو خلاف جارحانه رويې څرګندؤنه کوی ـچې یوه نیمه نازېبا واقعه د یو مسلمان نه وشي نو د هغوئ سرکاري او غیر سرکاري میډیا اسمان په سر راواخلي او د دنیا ټول عیبونه د اسلام په ځولۍ کښې واچوي دغه میډیا چې بیا د مسلمانانو سره کومه رویه شړي هغه دومره خطرناکه وي چې په ټوله مغربي دنیا کښې په بې ګناه بې خطا مسلمانانو حملې شروع شي ولې په دې افسانه کښې د مغرب بې بنیاده پروپیګنډې په مؤثره طریقه ځواب شوے دے د اسلام اود مسلمان وقارپه ځائےساتلے شوے دے ـ

غازی که شهید ـ دثورانقلاب ـ دیوې واقعې عکاسی کوی چې څه رنګه دلته دمذهب پاکه نامه عالمی قوتونو دخپلو ناپاکو ارادو ترسره کولو دپاره استعمال کړه ـ پینزیب،،دموجوده ترهه ګرۍحالات بیانوی چې په یوه چاؤدنه کښې یوه ناوې ښځه د پینزیب په ارمان کښې دپښونه محرومه شی دې نه علاوه په دې مجموعه کښې ځینې وړې وړې افسانچې چې افسانه نګار د اردو ژبې نه ژباړلې دي هم شاملې دي د هغو افسانو خپل یو اهمیت دے

ښاغلے فیروز افریدے یو لوستے او تعلیم یافته لیکوال دے دقیصې لیکلو په فن او هنر ډیر ښۀ پوهیږي ددۀ افسانې هر څو که په شمار کمې دي، ولې په تول پوره دي د موجوده حالا تو او د موجوده وخت ستونزې ئې په فنکارانه توګه مخې ته راوړي دي،په ځینې ځایونو کښې که د فن مروجه اصولو نه



سرغړونه هم شوې ده، ولې لوستونکے بور کوي نه، دافسانه نګار یو اضافي صفت داهم دےچې دخپلې سیمې او قبیلې ځینې ځانګړې ټکي ئې هم په کار راوستي دي،لکه په یوه افسانه کښې میدان یا ډاګه دپاره ،،درنګلے،،ټکے استعمال شوے دے چې سوچه پښتو ده اؤ ددرند سره نژدې والے لري، درند ته په ځینې ځایونوکښې درمند وئیلے شي،ددې کتاب بل صفت د غوره ترجمې دے ،دا څه اسان کار نۀ دے،موصوف چې کومې افسانې یا افسانچې د نورو ژبو نه ژباړلې دي هغه ئې اول د معیار په تله تللې دي بیا ئې ډیر په ښکلې انداز ترجمه کړې دي چې د افسانه نګار د ترجمې سره هم ښۀ ژوره بلدتیا ښکاره کوي ددې فن لوړو ژورو نه په ښۀ توګه خبر دے،

په هر حال د ښاغلي فیروزخان افریدي دا لنډې قیصې چې د طبعزاد سره سره پکښې ځینې ترجمې هم شاملې دي د پښتو په قیصه ایز ادب کښې یوه ښکلې اضافه ده، زۀ ورته هرکلے وایم، هیله لرم چې په راروان وخت کښې بۀ هم ښاغلےخپل قلم نه ودروي

**اسیرمنګل**

۱۵اکتوبر ۲۰۱۹ء

پېښور

www.pukhto.net

# د فیروز خان افریدي افسانې

افسانې که څه هم له افسون څخه اخیستل شوي او د سحر او جادوګرۍ په معنیٰ دي او په هغې کښې ډېرې خیالي قیصې او فرضي پېښې لیکوال او قیصه لیکونکی په پوره مهارت تر سیموي او تصویر ئې زمونږ مخې ته ږدي خو دا د هر لیکوال کمال اوپوهې پورې تړلې ده چې خپله افسانه څومره د لوستونکو د پام وړ ګرځوي او هنري او فني ښایستونه او د حقیقت رنګونه او جلوې ورکوي۔

افسانه لیکونکی تل هڅه کوي چې قیصه او واقعات د فن او تکنیک له نظره کره او معیاري ولیکي او پلاټ، کردارونه او مکالمې د ادب له نوو غوښتنو سره سمې په خپله لیکنه کښې ځائے په ځائے کړي اودخپل هنر په رڼا او ښکلا ئې ښکلې کړي۔

افسانې په عام ډول د وخت تېرولو، بوختیا او تفریح لپاره لوستونکي لولي او خوند ترې اخلي او دا یو داسې داستاني قالب دے چې په خیالي ډول په مجازي او فرضي عناصرو او کردارونو تکیه لري او غیر حقیقي پېښې او خارق العاده چارې پکښې بیانېږي،

افسانه له حقائقو او رښتینو پېښو څخه سرچینه نهٔ اخلي بلکې په هغې کښې حقائقو او د ژوند واقعاتو ته افسانوي، فرضي بڼه او رنګ ورکول کیږي او په ډېره خوږه ادبي ژبه او



معیاري توګه پنځول کیږي۔

افسانه د پښتو فولکلوریک ادب یوه پیاوړې او غوښنه برخه ده چې د لرغونو زمانو راهسې په پښتو ادب کښې ډېر زیات لیکونکي او لوستونکي لري او په لسګونو او سلګونو کتابونه ئې چاپ او په بازارونو او کتابتونونو کښې موجود دي۔

اوس به راشو د ښاغلي فیروز افریدي افسانو ته چې څومره پکښې د فن او تکنیک خیال ساتل شوے او په کومه کچه معیاري او په تول پوره دي۔

ښاغلي فیروز خان په خپله ( د صحرا بادونه ) د افسانو په ټولګه کښې کوښښ کړے چې د دېوانو، ښامارانو او د پېریانو د خیالي داستانونو په ځائے دخپلې ټولنې اواولس دژوند کردارونه پېښې او واقعات په خپله قیصه کښې راونغاړي او په هغې کښې د پښتنې ټولنې د روایاتو او دودونو پوره خیال وساتي۔

د افریدي صیب افسانې زمونږ د ټولنې ژوندې ژوندي تصویرونه سترګو ته کوي او په هغه څه څرخي چې په ریښتنې ډول زمونږ په چاپېریال کښې شتون لري او په خپل ورځیني ژوند کښې ئې مونږ وینو او ورسره مخ یو۔

دصحرا بادونه افسانو په ټولګه کښې ښاغلي فیروز په شعوري ډول زیار ویستے چې د خیالي او فرضي پېښو په ځائے حقیقي واقعات د خپلې لیکنې په غېږ کښې راونغاړي او هغه څه زمونږ مخې ته کیږدي چې زمونږ د ټولنې د حالاتو او واقعاتو عکاسي او انځورګري پکښې شوې وي۔

د ښاغلي افریدي دافسانو فني جوړښت خور، پیاوړے

www.pukhto.net

اوغښتلے دے او د ټولو فنی توکو او عناصرو د پوره خیال ساتلو شعوري هڅه پکښې شوې ده خو دا چې د ښاغلي افریدي دا هڅه او زیار څومره په ټول پوره او ستاسو د خوښې وړ ده نو دا قضاوت تاسو درنو ادبپوهانو او قدرمنو لوستونکو ته پرېږدم او د فیروزخان افریدي د افسانو لوستلو ته مو رابلم۰

ستاسو د اوږد عمر او نیکمرغه ژوند په هیله۰

الله مو مل او ساتونکے شه۰

**امان الله نصرت**

۲۰۱۹/۱۰/۱۰

پېښور



# دفیروز افریدی افسانې

ښاغلے فیروز افرید ے دپښتوادب په حواله یومعتبر او قد آور نوم دے چې دخپل معیاری تخلیقی عمل په ذریعه ئې پښتو ادب ته یوشمیر کتابونه ډالۍ کړی دی او ورسره ئې ګڼ شمیر نثری لیکونه مقالې ،مقدمې ،خاکې ،تکلونه ،مضمونونه او نور نثری صنفونه وخت په وخت په مختلفومطبوعاتوکښې خپرېږی چې د هغو په ذریعه ئې دقلم قبیلې په حلقوکښې یوشمیر مینه وال هم پیداکړی،داهم ددۀ خوش بختی ده چې د پښتوشاعرۍ ترڅنګ ئې په نثری برخه کښې هم دستائینې وړکار کړے دے چې ددې سلسلې تازه کړۍ ددۀ دافسانو کتاب '' د صحرابادونه'' دے که ددې افسانودقیقه مطالعه وکړے شی نولوستونکی به په دې نتیجه ورسیږی چې لیکوال په هره افسانه کښې د ټول انسانیت دپاره دمینې او امن پیغام ورکړے دے د یو روښانه اوتابانه سباؤن زیرے ئې راوړے دے او د یو داسې ژوند خاکه او نقشه ئې وړاندې کړې ده چرته چې مینه مینه وی اخوت او صداقت وی د یو بل نه زاریدل اوقربانیدل وی خوشحالی اوسوکالی وی داهغه سپیڅلے سوچ او فکر دے چې انسان دپاره بنیادی او لازمی حیثیت لری او ددې نه بغیر د انسان ژوند نیمګړے دے ۔ محترم فیروز افرید ے دیوې داسې سیمې او ټولنې سره تعلق لری چې هغه په ډیروحوالوسره ځانګړے حیثیت لری او بیا ددې سیمې روایات اوحالات هم د نورې نړۍ څخه

www.pukhto.net

بیخی جدا دی که څه هم ددغې سیمې خلق ډیروطن پرست او په دین مئین خلق دی خوبیاهم دغه امن خوښی خلق چا پهٔ ارام نهٔ دی پریښودلی۔

اووخت په وخت ئې ددوئ په خاوره بریدونه کړی دی او ددې خلقوژوند ته ئې مشکلات پیداکړی دی ددې سلسلې یوه تازه کړۍ په دې سیمه کښې دترهه ګرۍ هغه بلا اواژدهاده دکومې په نیتجه کښې چې پښتانهٔ پخپل وطن کښې دکډوالوپهٔ ژوند تیرولو مجبور شول۔ ګڼ شمیر پښتنو خپل ژوند دلاسه ورکړو او په لویه کچه د دوئ شتمنیوته زیان واوښتو ـخو دوئ دخپل کلک ایمان اومضبوطې حوصلې،همت اوشجاعت په ذریعه د حالاتومقابله وکړه اونن دادے په دې سیمه کښې دامن هوارا الوتې ده نودغوحالاتوچې کوم نقش جوړکړے دے دابه تر مودو مودوقائم وی اوزمونږ ټول ژوند به ئې داثرلاندې وی چې پکښې زمونږ ادب هم شامل دے

ښاغلے فیروزافرید ے یوحساس اوبیدار ضمیر لیکوال دے ځکه نوددې حالاتوڅخه متاثرکیدل ددهٔ دپاره څهٔ دتعجب خبره نهٔ ده ځکه نود ددهٔ دزیاتوافسانو موضوع خپله خاوره اوخپل اولس دے اودا صرف دفیروزافریدی مسئله نهٔ ده بلکې دپښتونخوا کوم لیکوال هم چې قلم پورته کوي نو د هغهٔ مخې ته هم دغه موضوع ودریږی او په تیرو دوه لسیزو کښې چې زمونږ څومره ادب تخلیق شوے دے هغه که د نظم برخه ده اوکهٔ دنثرپه هغې ددې حالاتو اثرشوے دے اوهم په دغه لاره زمونږ لیکوالانو تګ کړے دے فیروزافریدی هم په خپلوافسانو کښې زیاته برخه هم



دې حالاتوته وقف کړې ده اویوشمیرافسانې ئې ددې حالاتو عکاسی کوی داحالات دومره سنګین ووچې د طاهر افریدی غوندې لوئې افسانه نګار چې درنهاګانوښار کراچۍ کښې میشته ووهغه هم ددې داثرنه بچ پاتې نهٔ شواوزیاتې افسانې ئې هم ددې حالاتو په تأثر کښې لیکلې دی نو بیافیر وزافرید ے خونیغ په نیغه ددې حالاتوڅخه متاثر شوے وو دده په افسانو کښې خوبه خامخا دغه ناورین منعکس کیدو۔

خو کمال دا دے چې موصوف په افسانو کښې خپل لوستونکی کله هم مایوسه کړی نهٔ دی بلکې په هر قدم ئې ورته حوصله،همت او د امېد درس ورکړے دے اوخپل حالاتوځپلی اولس ته ئې د یو امن ناکه سباؤن زیرے ورکړےدے بیا ددهٔ افسانې دبنیادی ادابواولوازماتوپهٔ تول هم پوره دی سرخطونه ئې جاندار،پلاټ ئې مضبوط_هم دغسې د تمهیدکردار قیصې، مکالمې منظر کشی اوا نجام ټول پړاوونه ئې دستائینې وړدی ، بیا د وحدت زمان،وحدت مکان وحدت عمل، وحدت تأثر، اسلوب بیان،اختصار،فلسفه حیات اوداسې نورټول لوازمات هم ددهٔ دافسانو اجزاء دی چې ورسره ددهٔ هره افسانه دخپل وخت یوه سپینه سپیځلې هنداره جوړه شوې ده او پهٔ دې صورت کښې د فیروزافریدي دانوے افسانوی کتاب ''دصحرا بادونه'' د پښتو ادب په افسانوی برخه کښې ډیره ګټوره اضافه ده چې په حقیقت کښې ددهٔ له اړخه یوه غوره تحفه ده نور دا تاسو او دا د فیروز افریدي افسانې، د فیروز افریدی دنور بر یالیتوب په امید

**مرادعلی مراد**

9_10-2019

## د مصنف خبرې

دا ځل مې اراده وه چې خپل سوانح لیک مکمل کړم او هغه چاپ کړم زما دا سوانح چې د سفرنامې رنګ هم لري ځکه چې زما35 کالو نه زیات وخت په سفر کښې تیر شو۔

خو دا یو څو افسانې راسره په فیس بک کښې محفوظې وې ما په دې غرض چاپ ته وسپارلې چې ضائع نه شي۔

ځکه ما سره د خپلو لیکنو په کاغذ کوم نقل یا نسخه نشته۔

که خدانخواسته فیس بک ائي ډي مې خرابه شوه نو هر څه به پکښې ورک شي لکه څنګه چې مخکښې په دستار ویب پاڼه کښې ورک شوي او ضائع شوي دی۔

کومې چې زما د نثري لیکونو او شاعرۍ څه برخه وه۔

مامخکښې هم څو کرته ذکر کړے دے چې د ژبې او ادب په خدمت کښې که چرته کله کله لیک نیم هم وکړم خو د زړۀ د عدم اطمینان یا لټوالي له کبله رانه په کاغذ لیکل ونه شي او ضائع شي۔

دا لیکنې هم له دې یرې او ډاره چاپوم او نتیجه ئې لوستونکیو ته پرېږدم۔

ددې افسانو لنډیز په دې اساس لیکم چې د دې شاته پس منظر هر چاته معلوم وي چې بیادا څوک نه وائي چې داخو د



فلانې د افسانې یا ناول چربه وه یا فلانې هم داسې لیکل کړې ووځکه چې د پښتو ادب المیه دا ده چې نقدکم او تنقیص زیات پکښې کیږي او یوه ښه لیکنه یا فن پاره به درته په دې یوه خبره رد کړي چې دا خو ددۀ خپل لیک نه دے د فلانې رنګ پکښې نه وینې دا به ورته ضرور فلانې فلانې لیکلې وي۔

حالانکې زمونږ دمسافرو دا المیه هم ده چې دوئ دمختلفو لهجوویونکوخلقوسره یوځائےاوسیږی اوپه آخرکښې ئې خپله لهجه هم پکښې ورکه شی۔ بیا که لیکوال وی نو دهغه په لیکنه کښې به د هرې لهجې او ګډود رنګ بریښي۔

زما خپل خیال دا دے چې دا دنیا او پرې اباد خلق نن او پرون نۀ دي زیږیدلي نه د ژبې او ادب ساخت اوسنے دے۔

د کله نه چې دا دنیا اباده ده د هغه وخت نه د انسان د ارتقا سفر شروع دے۔ د انسان او حیوان ترمینځ چې کوم امتیازی خاصیت دے هغه د نطق دے،

نور ئې ټول ضرورتونه یو شان دی۔ هم دغه سوب دے چې انسان ته ئې حیوان ناطق وئیلی دی۔ او حیوان ته ئې حیوان مطلق وئیلی دی۔ اللہ پاک هم ددې نطق په اساس ورته تمام علوم ورزده کړي دي لکه په قرآن کښې آیت مبارک دے چې آدم یعنی انسان ته مې د ټولو شیانو نومونه وروښودل۔ هم ددې نطق نه ئې تعقل وزیږیدو۔او دغه تعقل بیا د نطق کړنې او انګیرنې په تحریرکښې بدلې کړې۔

اول ئې اوازونه پیژندل بیا ئې د اشارې سره خپل مطالبونه انتقال کړل۔

www.pukhto.net

بیائې شکلونه جوړ کړل ورپسې ئې علامتونه او بالآخر دغه علامتونه ئې په تحریر کښې بدل کړل۔

په خارجی اوازونو پسې نورو شکلونو ارتقائی چې کوم تاثرات اخیستی وو د هغې یاداشت ساتلو یا منتقل کولو د پاره ئې په تحریر کښې ثبت کړل۔

د دومره ارتقا په تناظر کښې مونږ سره د دنیا ټول زده شوی علوم په مختلفو ژبو کښې په تحریرونو کښې موجود دي۔

ظاهره خبره ده چې دا د یوې ورځې، یوې میاشتې یا کال خبره نه ده د پیړیو پیړیو عمرونه پرې تیر شوي دي او ورځ په ورځ پکښې ترقی او تبدیلی کیږي۔ د تنقیدد اصولو ترمخه دغه ټول خیالات او تصورات د انساني ذهن له بطن نه راوتلي اوتحریري یا زباني ساخت ئې موندلے اوبیا دخپل زمان اومکان د اثر لاندې او تکمیل او تبدل موندلے دے۔

ددې خبرې مقصد دا شو چې د لیکنې نوې تصور تخیل یا تخلیق دهیڅا نشته بلکې د زمانو نه دا سا ختمانونه جوړیږي ورانیږي او بدلیږي۔

د موجوده دور د پرنټ الیکټرونک او سوشل میډیا په کوم بحیر کښې چې مونږ ژوند کوو دا ټول واقعات،حادثات او د انسان د ژوند سره تړلی معاملات د روزمره په بنیاد زمونږ د نظره تیریږي۔

او هرکس بالخصوص حساسه لیکوال ترې اثر اخلي۔ بیاهم دغه اثر د انسان په لاشعورکښې پروت وي چې د لیکوال په لیکنو کښې ئې عکس یا خیال بریښي۔زما ددې افسانو د ژبې او



رغونې د معیار په حقله څه نه شم وئیلے دا به لوستونکیو ته پریږدم خو د افسانو د تأثر اخیستو او محرکاتو په حقله به لږ ډیر معلومات لوستونکیو ته وړاندې کړم۔

ددې مجموعې اوله افسانه ''استاذ'' تمام لوازمات کړۀ وړۀ هئیت رغونه زما خپله ده البته ددې افسانې کوم کلائیمکس چې دے چې یو استاذ خپل شاګرد ته په داسې حال کښې هم چې د هغه عزت اوناموس ته پکښې خطره راپیښه شوې ده ظاهره خبره ده چې په داسې صورت حال کښې انسان د خپل سر نه هم تیریږي۔

خو استاذ دخپلې پیشې تقدس په خیال کښې ساتلے او د یو مثالی استاذ کردار ئې ادا کړے دے۔

دا ما چرته ځلویښت کاله پخوا د چا دخلې یا په کوم تحریر کښې اوریدلی یا لیدلی وو نو زما په لاشعور کښې موجود دا خیال به چې کله هم زما شعور ته منتقل شو نو ما به پرې کله کله وړه غونډې لیکنه په اردو ژبه کښې وکړه۔

لوستونکیو به وستائیله دغه سوب ووچې ما ورته اخر هم د پښتو ژبې بڼه ورکړه او یوه افسانه مې پرې ولیکله۔

دویمه افسانه۔نامرد۔

د افسانې نامرد د لیکلو تحریک د یو هندی شارټ فلم او د خپلو مشاهداتو او مطالعې په اساس راپورته شوے دے۔

ددې شارټ فلم نه مخکښې ماسره په انګلستان کښې وخت تیرونکو ملګرو دا قیصې شریکې کړې وې چې هغه کسان چې خپل بچي اروپا یا مغرب ته سبق وئیلو ته لیږي نو اکثر پکښې بیا د فیسونو او ژوند ژواک خرچې نه شي پوره کولې۔

www.pukhto.net

نارینه ئې په هوټلو ریستورانونو او پیټرول پمپونو کښې د صفائئ کارکوي یا بله کومه مزدوري کوي او جینکۍ پکښې اکثر بیا د بوائے فرینډ سره اوسیږي۔

هغه ئې خرچه وچتوي او نور امداد هم ورسره کوي۔

په بدل کښې دا جینۍ د هغۀ کور کار او د هغۀ جنسی خواهشات پوره کوي ۔ دا ئې له مجبورۍ هم کوی ۔ ددې خبرې اثرات زما په ذهن کښې مرتب وو خو چې دا وړوکے د 10 دقیقو فلم مې په موبائیل وکتو نو تحریک مې نور هم قوي شو او دغه افسانه مې پرې ولیکله۔

افسانه نمبر 3 د ژوند په ضد پرلت۔

د ژوند په ضد پرلت زمونږ د ځوان اردو لیکوال صفي سرحدي اولنۍ افسانه وه او چې ما ولوسته نو خوند ئې راکړو خو مشکل ئې دا وو چې دا افسانه د هندي ماحول د اثر لاندې وه او ددې مرکزي خیال هم د موجوده مذهبي نظام په ضد وو۔

ژبه ئې هم د هندي لهجې او تورو وه۔

ما ئې خیال ته تغیر ورکړو او په لامذهبه اقدارو مې طنز وکړو۔

ماحول مې ئې هم خپل وطنی ماحول ته راواړوو۔

دا افسانه اخبارونو او مجلو کښې هم چاپ شوې ده

افسانه نمبر 4 ۔ کفاره۔

کفاره زما خپله له تخیل راوتلې افسانه ده خیال ئې زوړ دے د روزمره واقعاتو او قبضه مافیا قیصو ته چې ګورو نو د خیر او شر تر مینځه د یو امتیازي خاصیت بیانیدو کوشش مې کړے



دے

افسانه نمبر 5 ۔ انجام۔

دا قیصه بلکل رښتونې قیصه ده چې زمونږ د مسافرۍ په وخت کښې دا پیښه شوې وه

په دې کښې د کردارونو نومونه بدل دی نور ټول واقعات رښتوني دي۔

زما هم په دې افسانه کښې یو کردار دے۔

دازما اولنۍ لیکلې شوې افسانه ده کیدے شي د افسانې چاشني پکښې هغه شان نه وی کوم چې د افسانې خاصیت وی ۔

افسانه نمبر 6 ریزګاري۔

ریزګاري ماسره شوې د وړوکوالی په یوه واقعه لیکلې شوې قیصه ده اګر چې دا واقعه یا قیصه سل فیصده ریښتونې ده ۔ د یاداشتونو په زور او ددغه یاداشت خوندي ساتلو په غرض مې دا افسانه ولیکله۔

نتیجه ئې په لوستونکو پریږدم۔

افسانه نمبر 7 سلور کراؤن۔

دا افسانه د فیصل نواز چوهدری د افسانې ژباړه ده ظاهره خبره ده چې دا زمونږ د معاشرې حال نه دے خو زمونږ د وطن د وګړو ځوک چې په اروپائی ټولنو کښې ژوند کوي د هغوئ سره داسې واقعات پیښیږي۔

په دې افسانه کښې دمشرقي اقدارو د تقدس بیانیه وړاندې شوې ده۔

افسانه نمبر 8 غازی که شهید ۔

www.pukhto.net

دا افسانه زما د کلی ګران ادبی ملګري د لاور خان وقار دخلې اوریدلې قیصه ده کومه چې ماپه خپلوالفاظو،علاقائی مقاماتو او کردارونو کښې رغولې ده .اګرچې کله مې دلاورخان ته واوروله نو تعریف ئې ډیر وکړو خو دا تحفظات ئې هم څرګند کړل چې په دې خو ما لیکل غوښتل.

بهر حال 10 کاله وشو دلاور وقار ورور پرې لیکل ؤ نۀ کړل او ما نه هم ورکه شوې وه اوس اوس مې د یو ویب سائیټ په ارکائیو کښې پیدا کړه او دغه مجموعې ته مې وسپارله.

افسانه نمبر 9 پینزیب.

ددې افسانې خدوخال او خاکه هم ما د ګران ملګري دلاور خان وقارنه اوریدلې وه او دغه افسانه مې پرې ولیکله.حالانکې بیا مې چې یو کس نیم ته واوروله نو چا راته دا هم ووئیل چې په دې موضوع د عامر خان یو فلم ''من''هم جوړ دے چې نه ما کتلے نه دلاورخان لیدلے خو داسې واقعات زمونږ د وطن سره ډیر شوي دي لهٰذا د وطنی غمیزې څرک پکښې ډیر جوت دے.

کیدے شي په دې افسانو رانه دلاور خان وقار خفه هم شی خو زه به دا ټول کتاب ترې قربان کړم افسانه لا څه وي.

افسانه نمبر 10 منافقت.

دا افسانه د هغې خلقو د منافقت په پس منظر کښې لیکلې شوې ده چې په خپلو خبرو تقریرونو کښې دروغ او منافقت وائي. یو طرف ته د بل کار و زیار غندنه کوي په بل طرف هم دغه کارونه او د خلقو پیرزوئینې یا خیراتونه په خپل استعمال کښې راولی او د خپلو مذمومو مقاصدو دپاره ئې استعمالوی.



ستر ګې ئې پرې پټې کړې وي.

د کتاب په آخر کښې وړې وړې افسانچې دي کومې چې ما په نیت د هندي افسانچوچې دوئ ورته پوپ کهانی وائي ترجمه کړې دي

ځکه چې د کتاب مواد کم وو

نو په دې اساس مې دا افسانچې هم پکښې ورګډې کړې.

زما د افسانو دا وړومبۍ مجموعه ده اګر چې نثری دوه کتابونه مې اول هم چاپ دي،یوه شعری مجموعه هم چاپ ده او د مجلو د لیکنواو ترتیب تجربه مې هم شته خو بیا هم انسان ډیر نیمګړے دے . عقل ئې خام دے او ډیر داسې موضوعات وی چې د یو انسان په طبیعت برابر وي اود بل برابر نه وي اصل کمال دښې موضوع نه پس دژبې ښکلا اوښائیست وي او مونږ تیراوال خلق په دې کښې هم کمزوري یو.

نوکه په دې مجموعه کښې هر قسم خامي وي یقیناً چې پړه ئې په ما ده.

کوشش به کوم چې راروان لیکل تر څه حده د معیار تر مقاماتو ورسوم.

ددې مجموعې په چاپ کښې ما سره د پښتو ادب استاذ ښاغلي پروفیسر اسیر منګل صیب چاچې نه یوازې د املا او چاپ بلکې په تمامو مرحلو کښې ښه امداد و کومک کړے دے او بلا شبه زه ددې شخصیت کردار،ښۀ سړیتوب او انسانیت نه متاثره خووم خو ددۀ ادبي مقام هم زما په زړۀ او ذهن ژوراثر لري د نورې مرستې پرته ئې زما په دې افسانو خپله لیکنه هم

www.pukhto.net

وکړه او په دې مجموعه کښې ئې زما په خواهش شامله کړه
زه ئې د زړهٔ له کومې شکريه ادا کوم.

د عدنان منګل هم مشکور يم چې د واټس اپ په وسيله ئې زما افسانې راټولې کړې په خپل کمپيوټر کښې ئې په ترتيب کړې او د املا ستونزې ئې پکښې هوارې کړې.

د مراد علی مراد ورور مننه کوم چې زما په وينا ئې خپل ليکل وکړل، پروف ريډنګ ئې وکړو او عدنان منګل ته ئې ورسول. دګران امان الله نصرت صيب مننه چې زما په دې کتاب ئې په زړهٔ پورې ليک وکړو او خپله درنه ليکنه ئې راپيرزو کړه.

په آخر کښې دا کتاب زهٔ د خپل کشر تکړه او ډير فعاله ورور ملک مير عالم خان شهيد په نوم منسوب کوم د چا بدل او اجر چې زهٔ د الله پاک نه غواړم. چې په 19 جنورئ ئې رانه واخستو او زمونږ د زړهٔ اباده دنيا ئې ورانه کړه.

دمير عالم شهيد په شان انسان زما په خيال مشکل دے چې بل پيدا شي ددهٔ غميزه دومره ژوره او زوروره ده چې زما خيال نه دے چې په دې پاتې عمر کښې به زما د ذهن او زړهٔ نه وځي.

د ژوند ددې بی ثباتئ له کبله دا مجموعه مې په تادئ کښې چاپ ته وسپارله.

د نقد حق ګرانو لوستونکيو ته حاصل دے چې په کوم نظر ورته ګورئ. ماته منظور دے

**فيروز افريدے**

8 اکتوبر 2019 قطر



## استاذ

له وړوکوالي د هغه عادتونه د خپلو خپلوانو او چم ګاونډ د خلقو په خيرنه وو.

هغه کله هم دنورو ماشومانو په شان لکه د بلورو، شينولو، ليندو، موچغنيو اونورو روايتي لوبوشوقين نه وو بس يو نامعلومه سوچ به ئې مل وو.

زړهٔ به ئې غوښتل چې د خلقو سره په ځينې موضوعاتو بحث وکړي. لکه تعليمي نظام وطني ناوړه دودونه کلتوري نيمګړتياوې او داسې ډيرڅه.

کله کله به ئې دسکول استاذ نه دغه رقم پوښتنې هم کولې او په ځينې پوښتنو به ترې استاذان تنګ هم شول.

او ورته به ئې ووئيل چې ګلابه دامعاشره او دا رسمونه دودونه په يوه ورځ کښې نه جوړيږي.

د عمرونو تيريدو وروستو دانسان او عمومي معاشرې د خير ښېګړې ښه او بد ته راوړلو وروستو د خلقو په مينځ کښې روزنه او وده مومي.

ځينې رسمونه دودونه د انساني معاشرې د ارتقا او بدلون سره له مينځه لاړ شي ځينې نوي پکښې داخل شي.

ځينې د مذهبي عقائدو او تعليماتو په اثر کښې وده وموي او اکثر د انسان د خير ښېګړې د پاره مينځ ته راشي.

په ټول سکول کښې به چاورته ليونے چا فلسفي او چا دماغي

بیمار وئیل۔

هغه په خاموشۍ دهلکانو بدې ردې اوتندې تیزې خبرې اوریدلې خو چا ته ئې غږ یا ځواب نه ورکولو۔

اکثر به د هغه په خاموشۍ هلکان نور هم په ضد شول۔

هغه پسې به ئې شپیلي او له ریشخند ډکې خنداګانې کولې۔ هر شرارتي هلک به کوشش کولو چې هغه تنګ کړي۔

خوددې هرڅه نه پس بیاهم هغه چاته دکومې خبرې ځواب نه ورکولو۔

د کلي مشرانو هم څو کرته د هغه پلار او مور ته وئیلی وو چې دا بچے مو بل شان نه دے ؟۔

هغوئ به هم د خپل ځوی په دې عادتونومشکوک غوندې شو۔ مور ئې څو کرته په وړوکوالي کښې دمونو او دمګرو ته هم بوتلے وو خو هغه به مور ته ووئیل۔

مورې

چې زۀ روغ جوړ یم نو تاسو ولې په ماد بیمار یا لیوني شک کوې۔؟

ما سره داسې سلوک ولې کوې۔

هغه داسې ماشوم وو چې کله ئې هم د مور پلار یا بل چا زړونه ازار کړي نه وو۔

په ژوند کښې د چا ودونو یا ښادو له نه وو تللے۔

وخت تیریدو او هغه د سکول نه کالج او د کالج نه د یونیورسټۍ سبق هم ختم کړو ۔ هر یوامتحان ئې په اعلیٰ نمبرو پاس کړو او چې کله د سبقونو او کورسونو نه فارغ شو نو په خپل



شوق ئې د استاذۍ پیشه اختیار کړه۔

په یو سکول کښې استاذ شو۔

په لږ وخت کښې د سکول په ډیرو ښو او خواري کښو استاذانو کښې د هغه نوم یاد شو سنجیده هلکان به ترې هر وخت د زدکړې په تکل کښې وو ۔ د شاګردانو په زړونوکښې ئې قدر او منزلت زیات شو۔

هغه به چې یوځل په کومه موضوع خبرې پیل کړې نو تر هغې به ئې نه پریښودې چې هلکان به ئې پرې پوهه کړي نه وو

هغه به هم کله کله حیران شو چې په خبرو خبرو کښې به ورته د موضوع نوي نوي جهتونه رابرڅیره شول

د هغه چې څه هم زده وو د زړۀ د اخلاصه به ئې خپلو شاګردانو ته انتقال کړل۔

وخت تیریدو د هغه د طالب علمانو سره د محنت او خوارۍ انګازې په خواؤشا شاګردانو او استاذانو کښې خورې شوې۔

هغه هم په خپل ژوند کښې لکه د وړوکوالي په څېر نور څه بدلون ته تیار نه شو۔ هم هغه خاموشي او ځان ته یوازې اوسیدل ئې خوښ وو او البته د خپل ټولګي او شاګردانو مخې ته به چې ودریدو نو لکه د طوطي په یو ناتار به چغیدو۔

د هغه د خوښې مضامین او موضوعات سماجیات یعني سوشل سائنس، قانون ریاضي،تاریخ او فلسفه وه

په هر مضمون ئې ورته مهارت حاصل وو۔

د ژبې لغاتو ګرامر ادبیاتو او هم داسلامیات بهترین استاذ

www.pukhto.net

ګڼلے شو۔د ډیرو استاذانو شاعرانو کلامونه ورته یاد وو ۔

داستاذ په دغه یو سکول کښې داستاذۍ ډیر وخت تیر شو۔ تردې چې دومره وخت واوړیدو چې د هغه شاګردانوکښې هم ځینې کسان اوس په خپلو کارونو لګیدلي وو۔

یو شاګرد د هغه سره په سکول کښې استاذ هم شوځینې پکښې نورو شعبو ته منتقل شول استاذ د خپل کلی نه ډیر لرې په بل کلي کښې استاذ وو او هم هلته په یو کوارټر کښې اوسیدو کله کله به کلي ته لاړو۔

خپلو ورونړو خویندو،مشرانو،مور او پلار سره به ئې لیدل کتل وشول ۔ خو چې د سکول د ډیوټۍ دحاضرۍ وخت به شو نو ځان به ئې رسوو که هرڅومره ضروري کار به پیښ شو ۔غیر حاضري به ئې نه کوله۔

استاذ پخپله وادۀ نه وو کړے۔

د نور ټولو ورونړو خویندو ئې ودونه شوي وو۔

د مور پلاراو ورونړوخویندو په ډیراصرارئې وادۀ ته غاړه کینښوده

دغه وخت ئې عمر د څلویښتو اوړیدلے وو

هغه به مور او پلار ته وئیل چې تاسو ته معلومه ده چې زۀ د عامو انسانانو په شان عادتونه نه لرم۔

خدائے ناخواسته معذوره نه یم خو زما سره دا یره ده چې زما د دې عادتونو نه به زماد ژوندملګرې خوشحاله نه وي او هسې نه چې د ځان خوشحالولواوکور دکارونو دپاره د بل معصوم انسان ژوند خراب کړم۔



خیر وادۀ هم وشو۔

د واده په ورځ هم هغه په خپل سکول کښې حاضري لګولې وه او چې کله استاذ په عامو ساده جامو کښې کورته راغلو نو ډولۍ ئې راغلې وه۔

مور او خویندو ورته جامې او پیزار بدل کړل ۔ دشپې ئې نکاح ورته وتړله۔

په سبا بیا هغه سکول ته د وخته رسیدلے وو او تیر ماښام کور ته راغلو۔

خپلوانو ورته خبرې هم وکړې چې بې انصافه
دخپل وادۀ د خوشحالو دپاره هم درسره وخت نشته
څه کفر به شوے وو که څو ورځې رخصتې دې اخستې وه۔

هغه به چا له هم د داسې خبرو ځواب نه ورکولو۔

بس دومره قدرې ئې ووئیل چې دماشومانو د زدکړې وخت ډیر مهم دے۔

څه موده پس ئې امتحانونه دي۔ هسې نه چې دکورس کارئې نیمګړے پاتې شي۔

میاشت نیمه پس چې د کور نه سکول او د سکول نه کور ته په تګ راتګ ستړے شو۔ نو مور ته ئې ووئیل چې مورې په سکول کښې زما کوارټر خالي دے که ستاسو اعتراض نه وي نو زۀ به هلته پاتې کیږم۔

مور ورته په ځواب کښې ووئیل لیونیه چې ته یوازې پاتې کیږې نو دا ناوې هم ځان سره بوځه کور به دې پرې آباد وي۔

هغه سوچ وکړو او مور ته ئې ووئیل چې۔ سمه ده۔

دوه درې نوراستاذان هم د بچو سره هلته مونږ سره جخت اوسیږي.

هغوئ هم خپل بچي راوستلي دي او ځان ته ئې اسانه کړې ده بچیان ئې هم په هغه سکولونو کښې سبق وائي.

مور ورته ووئیل چې ددې نه زیاته بله ښه خبره کومه ده بس ورور به درسره د سبا نه کډه یوسي او هفته لس ورځې پس دواړه دلته هم ځئ راځئ.

استاذ په بله ورځ دخپل سکول کوارټر ته مختصر غوندې کډه یوړه استاذ کورودانه هم د هغه په طبیعت سمه مړه خویه ښائسته اوسنجیده بي بي وه.

د استاذ خدمت ئې هم کوو او د هغه د خوئي بوئي سره هم عادت شوې وه.

استاذ په خپل ژوند کښې یو ښکلے بدلون او سکون محسوس کړو. د ژوند چلند ئې ښه روان وو

هغه به په نیمه چهتۍ کښې کور ته راغلو ډوډۍ به ئې وخوړه بیا به چټک خپل کلاس ته ورغلو او د پوره چهتۍ سره سم به کور ته راغلو.

کله کله به د چهتۍ نه پس دواړه خاوند او ښځه نزدې بازار ګوتي ته لاړل هلته به ئې سود سودا وکړه بیرته به خپل کوارټر ته راستانه شول.

ژوندپه یو ښائیسته ډګر روان شوے وو. او وخت په تیزۍ سره روان وو.

درې څلورمیاشتې پس یوه ورځ چې هغه کورته د غرمې



ډوډۍ دپاره داخلیدو نو د کور وړوکي غولي ته چې څنګه داخل شو یوه چیتهۍ ئې په زمکه پرته ؤلیده.

چیتهۍ ئې راواخسته لاندې باندې ئې واړوله په باندیني پوست ئې کوم لیک، نوم پته نه ښکاریدل.

داسې معلومیده لکه دا چیتهۍ چا له بهره ارتاؤ کړې وي.

چیتهۍ ئې جیب کښې واچوله او کمرې ته ننوتو.

چې کله ئې ډوډۍ وخوړه نو چیتهۍ ئې خلاصه کړه. دننه په سپین کاغذ باندې ئې یو وړوکے پیغام لیکلے وو.

په دې لیک کښې ئې د استاذ ناوې بي بي ته د مینې او محبت خبرې لیکلي وې.

ورپسې ئې لیکلي وو.

خفه نه شې زه پوهیږم چې ته یوه ښائیسته پیغله جینۍ ئې او استاذ ډیر زوړ دے.

زهٔ هم ځوان یم او ته هم پیغله جینۍ ئې.

په ځان مې قابو ؤنه شو دا چیتهۍ مې درته ولیکله.

ماسره دوستانه جوړه کړه

زمونږ دواړو به فائده وي.

زه هم په دې سکول کښې استاذ یم او کال مخکښې دلته بهرتی شوے یم. ستاسو خاوند مې استاذ پاتې شوے دے.

ډیر بل شان سړے دے.

زه خپل نوم نه لیکم خو که زما سره دې دوستۍ ته زړهٔ کیدو نو د خپل کور په دروازه د سور رنګ نښه پریږده.

د لیک لوستلو نه پس استاذ څو شیبې سوچ یوړو.

هغه دعمرونو سوچي وو.

اول سوچ ئې دا راغلو چې دې معامله کښې زما د ښځې څه قصور یا تېروتنه شته. فوراً ئې

ذهن ته رڼاراغله .هغهٔ خپلې میرمنې ته وکتل هغه پرسکون ناسته وه . هغه په زړه کښې ډاډه شو چې دا څو میاشتې زهٔ ددې بي بي په داسې سپک یا بې باکه حرکت نه یم پوهه شوے.

که چرې زما بي بي مشکوکه وه نو زما نه مخکښې به دغه لیک دې راپورته کړے وو. یا به اوس زما په دا د معمول خلاف د ډوډۍ په وخت لیک لوستلو هم مضطربه شوې وه.

که چرته دهغې زهٔ خوښ نه وم نو خامخا د هغې رویه به بیزاره او طبعیت به خراب او پریشان حال به وه.

دومره کاله ما د خلقوخبرې اوریدلې دي دهغوئ رویې مې ځیرلې او څارلې او د خلقو په مخ مصنوعي خیرې، شکلونه او نفسیاتي کرښې لوستلي دي ددې دومره څه مشاهدو او تجربو وروستو زهٔ په یقین سره خپله میرمن پاکه معصومه ګڼم او نن خو بیخي د ډیرې مینې حقداره ده

دغه وخت استاذ ته دخپل اندپه عدالت کښې داسې برېښیده لکه ملائیکه ورته ناسته وي. بل طرف ته ئې د خپل فکر په عدالت کښې شاګرد ولاړ وو.

هغه د سور رنګ قلم له خپله جیبه رابهر کړو .هم په هغه لیک ئې د پاسه لیکل وکړل او بیرته ئې لیک هم په خپل پوست کښې ونغاړلو او جیب ته ئې واچولو.

خپلې بي بي ته مسکے شو او دومره ئې ورته ووئیل چې ته



ځان تیارکړه زهٔ نن دهیډ ماسټر نه پوره د یوې اوونۍ (هفتې) رخصتي اخلم چې خپل کلي ته لاړ شو او سم دستي له کوره ووتو او د سکول په طرف لاړو.

خپل یو شاګرد ته ئې ووئیل چې فلانې کلاس ته لاړ شه او دا چیټۍ فلانې استاذ له ورکړه او بیا ترې راځه.

شاګرد د خپل استاذ چیټۍ هغه بل استاذ ته ورسوله.

د هغه چې څنګه هم په خپل لیک نظر پریوتو .

نو وار پار ئې خطا شو او په شغ د کلاس نه ووتو.

چې کله کور ته ورسیدو نو چیټۍ ئې د جیب نه زر زر را وویستله او چې لوستل ئې پیل کړل نو هغه په سور قلم د خپل لیک دپاسه ځینې تاؤ راتاؤ دائرې ولیدلې اوورسره ئې تصحیح شوی توری ولیدل. چې د املا توري ئې ورته سم کړي وو.

لاندې ئې پرې مختصر لیکل کړي وو

ستا د املا ټولې غلطۍ مې درته په سور قلم درستې کړې.

◈◈◈

## نامرد

هېلو جان

او پۀ خېر پاسېدلے ګرانه

ماریه خپل بوائے فرېنډ انور ته چا سره چې هغه پۀ یو اپارټمنټ کښې وسېدله پۀ لوري وکتل او ورته ئې ووئیل.

هو پاسېدم جان۔ بیګاه تر ناوخته خوب نه راتلو نو لږ ناوخته پاسېدم۔

ډېر ښۀ وشو انو .... د ډېرې مینې نه ماریه به هغه ته انو یا انو جان وئیل او انور به ماریه ته ماري یا سویټ هارټ وئیل.

بس نېغ حمام ته ځه .. زرغسل وکړه چې بیا نن بازار ته تلل دي وریسې له هغه ځایه زما د ملګري سالګره ده هغلته به هم ځو ډېر پۀ تاکید سره ئې وینا کړې ده.

تاسو ته خو ما وئیلي وو کنه.

سالګره ئې ده خو تیارۍ ئې داسې دي لکه پۀ وطن کښې د وادۀ د پاره جینۍ ځان تیاروي.

ها ها ها ها.

سمې کانې ئې پۀ ځان کړي دي.



بوائے کاټ ویښتان.

فیشل او سپیشل سکین ټریټمنټ سمه بلبله خو به ښکارې نن

چې خوئ دې ورته خراب نۀ شي جانو.

ماریې دا ټولې خبرې پۀ یوه ساه انور ته وکړې.

ګوره د هغې بوائے فرېنډ ئې هم ماته ستا د راوستلو بار بار تاکید کړے دے د وطن ماډرېټ دوستان او دپوهنتون اروپائی دوستان به هم ورله رادرومي

ما خو دا سیګرټ او بلوز ځان له راویستلې دي.ډرنک او ډانس به هم وي. د ډنرانتظام ئې هم کړے دے.تاسو شاور واخلۍ ځان زر تیاروه چې لاړ شو.

زۀ تر هغه پورې درته چائے ناشته تیاروم.

سمه ده ګرانې. تۀ ولې زړۀ خورې. درسره ځم کنه۔

اخر زۀ د چا نه کم خو نۀ یم.او نۀ تۀ دومره بې ارزښته ئې۔

که هغه د لوئې بیوروکرېټ لورده نو زۀ هم د جاګیردارځوئے یم.

او تۀ زما چائیس او ځیګر ئې.

ګني تاته خو پته ده چې دلته زۀ او تۀ پۀ خپله خوښه لیو ان لائیف یعني دخپلې مرضۍ ژوند تېرول غواړو او هم پۀ دې اساس او فخر سره بې غمه اوسېږو.

انور ورته پۀ خپل شاهانه سټایل کښې ووئیل.

ځکه درپورې انختې یم جانو

چې زماسویټ هارټ پرنس دے ۔ ښکلے،سمارټ

ډیشنګ.

پرسنلټي، هاټ، سېکسي، لکه دمست چرګ هر وخت تیار.

کله کله سوچ کوم چې زما ځیګر ما سره پۀ دې مسافرۍ کښې نۀ وې نوزماژوند به څومره بورنګ وو. د پوهنتون جهنجهټ پۀ خلاصېدو دے تاسره ښۀ ژوند پاس شو زړګیه.

ماریه هم پۀ خپل نشیلي انداز او اواز کښې خبره ورغبرګه کړه.

بس ګراني زما هم پۀ دې خوښه ئې چې نخرې درکښې نشته. ایغه نېغه زما پۀ طبیعت پوره.

د خپلې مرضۍ ژوند زما پۀ شان ستا هم خوښ دے.

د فېملي لانجې ورکوه ... سړے پکښې بې ځایه ضائع شي.

عیش کول پکار دي عیش.

هغه بابر څنګه وئیلي وو

بابر به عیش کوش که عالم دوبار نیست.

انور ورته خپله فلسفه وړاندې کړه.

انور ماریه ته بیا ګویانه شو.

جان چې د هغې بوائے فرېنډ دومره خیال د خپلې سویټ هارټ ساتي نو ولې زۀ د خپلې خوږې دپاره نشم تللې.

زۀ راځم شاور اخلم خو ماښام به لږ د وخته راځو چې بیا لږ مووي هم وګورو او نن شپه خو مې ډېرې مینې ته زړۀ کیږي جان.

اوهو دومره تلوسه؟

ماریه انور د واش روم طرف ته وردیکه کړو شپې ته خو لا ډېرې شېبې پاتې دي.



چې پۀ هوش کښې راشو کنه جان.

انور چې څنګه حمام ته دننه شو نو مخامخ پۀ شیلف ئې پریګنېنسي ټېسټ کټ ولیدو.

انورحېران شو چې ما خو ټول احتیاطونه کړي بیا ماریې ولې دا سټرېپ راوړلے دے.؟

چرته پۀ غم مو وانۀ ړوي .؟ که چرې ماریه بچے راوړي نو آزاده ده خو زۀ پۀ دې لانجو کښې نۀ یم. صبر چې خبره ورسره سپینه کړم.

که پۀ خپله خوښه ئې زېږوي اوساتي نو زما ورسره کار نشته خوکچه پخه ورسره کوم ځکه زما دا جنجالونه نۀ خوښیږي چې سبا راته دا بیل غمونه پراتۀ وي.

انور زر زر ولامبل او تولیه ئې د ځان نه تاؤ کړه او د ډریسنګ روم نه ئې جامې راوویستې او زرزر ئې واغوستې.

بهر چې راووتو نونیغ پۀ ډرائینګ روم کښې د ماریې سره پۀ خوا کښې کښېناستو.

جان من یوه سیریس خبره درسره کوم.

تاته خو زما لائیف سټایل یعني پۀ خپله مرضي ژوند معلوم دے چې زۀ پۀ ژوند کښې لانجې نۀ خوښوم.

پوښتنه مې دا کوله چې پۀ حمام کښې مې پریګننسي ټسټ کټ ولیدو دا تاسو راوړے دے؟

هو هو دا ما راوړے وو خو ما نه هېر شو چې الماری کښې مې ایښے وے-

سوري جان.

www.pukhto.net

ماریه ورته خجالت غوندې ګویانه شوه.

اصل کښې زما په ځان شک غوندې وو ما وئیل چې په دې کاټ سټرپس دوه درې ځله ټیسټ وکړم.

دا څۀ وائې ماریه؟

انور داسې انداز کښې پوښتنه وکړه لکه چې چرته غټ د غم خبر ئې اورېدلے وي.

زر وایه څۀ رزلټ دے؟

ماریه د انور په دې ردعمل حیرانه غوندې شوه او ورته سر ئې وخوزوو.

څۀ مطلب یعني تۀ اوس پرېګننټ ئې؟

انور ډېر په تشویش سره پوښتنه وکړه. هغې ورته بیا سر وخوزوو.

ماریه ورته په مدهم اواز کښې ووئیل ولې تاسو خفه شوی، جان؟

او بالکل زما دا قیصې نۀ لګي تاته خو پته ده چې زۀ په ځان پورې دا مصیبتونه نۀ پرېږدم.

انور ورته په غصه کښې ووئیل.

څۀ څۀ؟

انوره تۀ په هوش کښې ئې تۀ اوس زما په خېټه اولاد ته مصیبت وائې.

ماریې هم ورته د هغۀ په لهجه کښې جواب ورکړو.

ګوره تاته معلومه ده چې زۀ د داسې قیصو کتارو توقع نۀ ساتم دا ممکنه نۀ ده ما د خپل اړخه مکمل احتیاط کړے دے.



ځکه چې زۀ ددې خبرو قایل نۀ یم.

انور ورته بیا خبره د سره کړه.

ګوره انوره .. دا قیصه کتاره څۀ نوې خبره نۀ ده دا خو په ژوند کښې راځي او په دنیا کښې د انسان د بقا او فنا دغه تسلسل دے.

دا یو قدرتي عمل دے تۀ ولې دومره پرېشانه ئې

قدرتي عمل نه د اسمان سر دے. عجیبه جینۍ ئې زما په خبره دې هډو سر نۀ خلاصېږي.

زۀ درته وایم چې زۀ د لیو ان لائف قایل یم.

خپل ژوند خپله خپله مرضي.

ستا د طبقې جینکۍ هم دا شغارونه بیانوي چې,, میرا جسم میری مرضي،،نوبیا اوس درباندې څۀ وشو په تا څۀ تندر پریوتے دے.

انوره .. ماریه ورته په تیز آواز کښې ووئیل۔

سارۀ خوره.

زۀ ستا زر خریده کنیزه نۀ یم زما خپله مرضي ده که بچي پیدا کوم او که نۀ پیدا کوم.

ماخو تۀ ډېر سوبر سویلائیزډ انسان ګڼلې ستادهر وخت معاشرتي ازادئ اوقید ،بندیزونو،روایاتونو دلیلونو زماپۀ شان څومره جینکۍ اوهلکان متاثره کړي دي او اوس داسې د نامردۍ خبرې کوې. ؟

ماریه ورسره هم په دلیل خبره سر ته رسوله.

انور ورته بیا په غصه شو ستا مازغۀ کار کوي. دې کښې د

www.pukhto.net

نامردئ ځۀ خبره ده. ابغه نېغه خبره کوم.

زۀ خپل ژوند کښې بچې مچې نۀ غواړم که زما د بچو او وادۀ خیال وے نو تا سره به مې پخوا وادۀ کړے وو. او بچې به مې راوړلی وو داسې نا ممکنه ده ځکه چې نۀ مو وادۀ کړے دے نۀ نکاح.

نو ددې شیانو نه بغېر بچې راوړل کوم جرم دے دلته پۀ مغرب کښې خو داسې خبرې عام کېږي. پۀ مونږ د چا پابندي خو نشته او.

نۀ ځۀ قانوني ممانعت شته.

دا مغرب دے او دلته زمونږ ایشین هم داسې کارونو ته خوشحالېږي.

دا رسمونه رواجونه پۀ وطن کښې کېږي او مونږ پۀ غرب کښې وسېږو.

که بیا دې ډېره یره کښېږي نو د وطن د خلقو د پاره چې کله لاړو بیا به دا هم ووایو چې وادۀ مو کړے دے.

ماریې ورته له خپله طرفه صفائی وړاندې کړه. انور ورته بیا ووئیل چې

ګوره ماریه زما دا ودونه دا بچې دا خاندان جوړول نۀ خوښېږي که زما خوښېدلې نو تاسره به مې پخوا وادۀ کړے وے.تا سره زما ژوند تېرېدلے شي چې ترڅو ستا خوښه وي چې کله دې زړۀ موړ شي زما نه پوښتنه مه کوه او چې چرته دې زړۀ وي هلته ځه .. بس دا چې کله ځې نو دروازه راپسې بند کړه که چرته زۀ اودۀ وم چې چرته غل مې کور ونۀ وهي.



نو ګویا ستا ما سره مینه نشته؟ ماریې ترې پۀ ژړغوني آواز وپوښتل

تاسره چې مې مینه نۀ وې نو بیا به زما پۀ فلېټ کښې تۀ څنګه وسېدلې؟

تا سره مینه کوم خو پرېکټیکل سوچ کوم. زۀ که تاته دا ووایم چې دا ستوري او سپوږمۍ به درته پۀ پښو کښې لېږدم نو دا ممکنه نۀ ده او دا به دروغ وي.

ځکه زۀ دا وایم چې دا بچې پیدا کول پالل ودونه رسمونه او مذهبي لړل تپل لانجه ماري ده او زما نۀ خوښېږي.

نو بیا خو زما او ستا پلار مور له هم پکار وو چې دا لانجه ماري ئې نۀ کوله ..

هغوئ ولې مونږ پیدا کړو. ماریې هم درته ډېر په بې رخۍ سره ځواب ورکړو

ګوره دا د هغوئ د وخت او وطن خبرې دي او دا مغرب دے. دلته دا قیصې کتارې پخوا ختمې دي ځکه خو دې خلقو ترقي وکړه.

انور ورته خپل روشن اند وړاندې کړو .

ګوره انوره ستا دابیان زما پۀ مازغو کښې لکه د سائرن غږېږي.ستا هغه پۀ انسان دوستۍ تقریرونه،د انسان پۀ ازادۍ وعظونه او خپل ژوند پۀ عیاشۍ سره تېرول زۀ متاثره کړم. زما تاسره مینه پیداشوه زما دا خیال وو چې د انور به هم زما سره مینه وي او زۀ چې ځۀ غواړم هغه به مني.

تهیک ده چې پۀ وادۀ کښې ئې انټرسټ نشته خو د بچې

www.pukhto.net

مخالفت خو مه کوه.

اخر د ښځې هم یو مورنۍ احساس "ممتا" وي. دا احساس د ښځې نه اخیستل یا تروړل پخپله د انسان سره ظلم دے او هم دغه ستا خیالات وو.

بي بي تاته ما اول وئیلي وو چې زۀ لیو ان باندې یقین ساتم او لیو ان کښې د دې خبرې ګنجائش نشته.انور ورته پۀ بېزارۍ سره ووئیل.

زما درسره مینه وه خو ما تاسو مجبوره کړي نۀ ئې. چې خامخا ما پسې راشه تۀ پخپله خوښه راغلې ئې اوس هم څۀ تلي راغلي نۀ دي کلینک ته لاړه شه او دا ګندلړې کړه. زمونږ مینه به هم پاتې شي او بېلتون به هم نه کېږي او لانجه مارۍ نه به هم خلاص شو.

نو بیا ددې ژوند فایده هم لږه بیان کړه ددې ضرورت څۀ دے؟

ماریه ورسره هم خپل ضد نیولے وو.

افسوس چې تاسو ته د لائیو ان ژوند اصطلاح نۀ ده معلومه .. لکه چې د کے جي ماشومه ئې.

Live in life

مطلب د خپلې خوښې ژوند،پۀ ژوند کښې سمجهوته یا مجبوري نۀ منل او د بل چا پۀ خوښه زندګي نۀ تېرول.

او ضرورتونه ئې دا دي چې څۀ دې زړۀ غواړي کوه.

چې ښوک درسره اوسېږي د هغه سره بې خوفه جنسي اړیکې پۀ خپله خوښه د یوبل پۀ کار راتلل مدد کول او تنهائۍ نه ځان



ژغورل او که بالفرض د پارټنر سره د ژوند تېرول مقصد وي نو چې د یو بل د عادتونو او خصلتونو نه خبر شي.

هم دغه ئې مقصد او ضرورت دے.

انور پۀ تفصیل سره د لائیو ان لائیف خاکه بیان کړه.

نو ګرانه دا خو دځناورو پۀ شان ژوند شو ماریه ورباندې طنز وکړو حالانکې ځناور هم خپل نسل نۀ قطع کوي.

ګوره ګوډې،

زما هم دغه د ځناورو ژوند خوښ دے بې غمه بې فکره.

دا زما اخري فیصله ده

که پۀ دې ژوند کښې تۀ ما سره اوسېدل غواړې نو ویلکم.

او که زړۀ دې نۀ غواړي نو مرضي دې خپله ده.

او مسټر.

زۀ داسې خوشې تشې نۀ یم پۀ خپل خرڅ ژوند تېروم. داسې هم نۀ ده چې ستا درکښې ستا ټکړو ته ناسته یم. ماسره دومره وسایل شته چې چاته هم اړتیا نۀ لرم زۀ خپل بندوبست کولے شم. زما دا خیال وو چې تۀ نرسړے ئې خو اوس معلومه شوه چې تۀ نر نۀ ئې بلکې نامرد ئې.

ماریه هم ببخې غصې اخیستې وه او ټک پۀ ټک ځوابونه ئې ورکول

ماریه ..

خلۀ دې پۀ واک کښې کړه.

ستا غوندې ما ډېرې د ځان لاندې کړې دي اوبیا مې دیکه کړې دي.

www.pukhto.net

تهٔ پکښې لاکومه مور جوړه شوې زما.

څه تښته خپل کار کوه انور ورته د غصې نه تک شین شو.

ټهيک ده دغه ده لاړم زهٔ خپل سامان پيک کوم ښه شوه چې اندازه راته وشوه چې ستا مينه صرف تر هوس پورې وه.

ماريې خپل سامان زرزر پيک کړو او چې دروازې ته نزدې شوه نو انور ورته بيا ګويانه شو نو دا ستا اخري فيصله ده؟

بالکل دا زما اخری فيصله ده ماريې ورته جواب ورکړو.

زهٔ پهٔ تلو تلو کښې يوه خبره کول غواړم ماته اول ډېرو ملګرو وئيلي وو چې دا کوم ژوند ما تا سره اختيار کړے دے دا د سړيتوب نهٔ دے.خو ما د چا خبره نهٔ منله زهٔ واقعي پهٔ غلطه ووم.

دويمه خبره داده چې يقيناً ښځه د نراونر د ښځې بيالوجيکل ضرورت دے او د دنيا يو مذهب يا کلتور هم ددې ضرورت نه بې خبره نه دے او هم دغه د ژوند د بقا فنا مرکزي نقطه ده. د هر يو عمل د پاره اراده وي او د ارادې دغه بنياد د مذهب او کلتور اساس جوړيږي.پاتې شوه د معاشرې د يو ذمه دار فرد خبره نو داسې چې هر کس د خپلې ذمه وارۍ نهٔ دست بردار شي نو بيا واقعي د ځناورو معاشره سازه شي هم ددې ځناورو ژوند يا حېوانيت نه مونږ مذهب اوکلتور بهر راوباسي او د يو ذمه دار انسان ژوند اختيارولو ترغيب راکوي.مردانګي يا نامردي تر سيکس يا بچو پيداکولو پورې محدوده نهٔ ده.بچي خو پهٔ جنسي تيري کښې پيدا کيږي خو مردانګي هغه صفت دے چې پلار د بچي ذمه داري واخلي.

او تهٔ ددې ذمه وارۍ نه زور لرې او نهٔ توان.



لهٰذا زما تر نظره تهٔ نهٔ يوازې نامرد ئې بلکې نابالغ هم ئې.

اخري خبره دا ده چې زهٔ پريګننټ نهٔ يم ما ليبارټري ټيسټونه هم کړي دي.

دا خو هسې زما شک وو نو ځکه مې دا کِټ کور ته راوړو.

ماخو ستا پهٔ تشويش تا سره شوخي کوله.

ښه شوه چې زما سترګې وغړېدې او ستا د ننه بې معنې او بې کيفه انسان مې وليدو.

ګوډ بائے.

◆◆◆

## د ژوند په ضد پرلت

دا د داسې ښارګوټي قيصه ده چرته چې د لوږې تندې غربت او بې وسۍ د لاسه هره ورځ کس دوه د خدائے د ذات او دينه بيزاره کيږي يا ترې چورلټ منکريږي. دوئي خپله يو هم خياله ډله هم جوړه کړې ده چې کله سره په څه خبره يا مسئله راغونډ شي.

نو هر مذهب بيزاره په معاشره يا ټولنه کښې د راپيښو کشالو او شخړو په حقله خپل وړانديزونه راوړي.

اکثر په دې نتيجه ورسيږي چې دا ټوله لانجه د مذهب ده.

دغه خدائے چې د امير او سرمايه داره طبقې دپاره يو نظام او د غريب پاره بل نظام چلوي.

بيامالداره پوهه شه او خدائے ئې پوهه شه مونږ دې پکښې نه يو.



نن هم په دې ښارګوټي کښې مذهب بيزاره خلق راغونډ شوي وو هر مشر خپل هم خياله محلتيان راغونښتي وو.

پرلت ئې وهلے وو

د ژوند په ضد لاريون ته راوتلي وو،

زه هم په دې سوچ دغه پرلت ته راغلم چې په دنيا کښې د قدم ايښودو وروستو شايد دا د انسانانودژوند په ضد وړومبنۍ لاريون او پرلت وي چې خلق ورته راغونډ شوي دي.

زه چې پرلت ته ورسيدم نو يو خيرن خچن مرګوني حال کس راته راجخت شو او د خپله انده ګويانه شو.

د غريب هم څه ژوند وي؟

لکه د تورې چارمخکۍ په شان چې مړه هم شي بياهم په ديواله پورې ليوه انختي وي.

او په مرګ هم مونږ يروي.

صيبه

مونږ ددې سرمايه دارو نه يريږو. ځکه زهٔ د دوئ په ضد لاريون کښې نه ورګډيږم.

بس د لرې نه ئې تماشه کوم

او سرمايه دار خو لکه د خدايانو په څېر دي. خلق ئې عبادت کوي

د خدايانو په څېر د دوئ په پښو کښې دولت پروت وي.

دولت خو ژوند دے دولت چې نهٔ وي ژوند نشته.

که وي هم نو ګناه وي.

بس دا قيصه به هم داسې روانه وي، ددې نه خلاصے نشته

www.pukhto.net

صیب۔

زهٔ په خپله هم په دولت پسې مرم صیبه ټوله دنیا پیسه پسې لیونۍ ده۔

بیا ماته نور رانزدې شو او ګویانه شو۔

ولې زهٔ غلطه خبره کوم څه ؟

زه خو وایم چې داسې کس به نهٔ وي چې په دولت مئین نهٔ وي هغه که زهٔ یم او که تهٔ یې او که بل څوک؟

زه خو وایم چې د دولت غلامي مې قبوله ده خو چې ښهٔ ډېر راسره وي۔

دولت زمونږ مور پلار نیا نیکه هر څه هر څه دي۔

ددې مرګوني حال د بدن او جامو نه سخا بوئ راتلو ما چې څومره ترې ځان یو خوا ته کولو دا نور رانزدې کېدلو۔

زړهٔ مې صبر نهٔ شو ورته مې ووئیل

سمه ده بس اخوا ودرېږه سړیه زړهٔ دې راته کچه کړو۔ څوک خدائے وهلې به وي چې تا سره بحث کوي۔

ددې خبرو نه پس چې هغه دخبرې ځواب ته ځان جوړوهٔ دغه وخت د ټوخي یوه سخته دوره پرې راغله او نزدې وو چې راپرېوتے ووځو هلکانو د مټو راونیوو او یو طرف ته ئې کښینوو۔

ددهٔ نه لا خلاص نهٔ وم چې د شا له اړخه یو بل بوډا چې په خله کښې ئې ایکي یو غانښ لکه د لرګي نیغ ولاړ ښکاریدو په بدن بیخی ضعیف او مرګونے وو زما په اوږه ئې لاس کېښودو۔ او راته ئې ووئیل چې

بابو صیب دولت د رنډۍ په مثال دے چې دلال ورته وائي



چې یار دې راغلو۔

دا ورته وائي چې دکومې کوځې ؟ زما خو زرګونه یاران دي

رنډۍ خو چې د چا په غېږ کښې پرېوته د هغهٔ ده۔ هغه خو د هر چا غېږې له ځي۔ دهغې خو زرګونه یاران دي۔ شل ځل دې ځي زما پرې هیڅ اعتراض نشته خو مړه چې ددې ځینې نامردو غېږې ته خو نه تللې۔

دا وخت زمونږ په څنګ کښې ولاړ یو ښځونک غوندې سړي ته هغهٔ وکتل۔

زما د ځواب نه مخکښې خوا کښی ولاړ ښځونک په غصه شو۔

واه مرګونیه۔

ولې دا دولت په مونږ راس نهٔ راځی څه ؟۔

آخرمونږ به څه نهٔ خوروڅښو؟ ۔ او داعلاج میلاج او ټیس ټپاس به په څه کوو نامراده۔

بوډا بیا ما ته مخ کړو او په خبرو شو۔

صیبه د داسې هیجړا د لاسه زما د ګل په شان ښائیسته لور په کور ناسته ده۔

بوډا لا خبرې کولې چې نا ساپه شور غوندې شو۔

یو بوډا سړے راپاسیدو هم دغه ددې پرلت مشر وو او خلقو وئیل چې دغه سړے ددې ښارګوټي دمذهب بیزاره ټولګي اولنے کس دے۔

هم دغه د دې ټولو مشر وو

د خبرو بنپو ئې خلې ته ونیوو اوګویانه شو۔

www.pukhto.net

ورونو ۔ زمونږ پیسه پکار ده ۔ په نالیدلو خدایانو مونږ څه کوو؟

که مونږ چرې خدایان منلے نو بیا مونږ ته دخدائے په ضد پرلت او لاریون کول پکار وو۔

خومونږ ته معلومه ده چې دلته معامله د خدائے نۀ ده د دولت ده۔

او بې له مال او دولته هیڅ زندګي نشته۔

داکوم ژوندچې زمونږه دے دا مو نۀ دے پکار۔مونږ دولت غواړو او دغه دولت زمونږ د ژوند دپاره بنیادي تیږه ده۔

زمونږ داسې خوشې تشې د پابندو او بې له څه مال حاله بې دولته زندګي پکار نۀده ،دولت او پیسه زمونږ د پاره هر څه دي۔

په پرلت کښې ناست شلیدلې خولۍ په سرکس غږ پورته کړو۔په رښتیا چې اول نمبر مشر ئې۔

مشر لاس راولاړ کړو او یو ځل بیا ئې غږ پورته کړو۔

واورئ۔

د چا په لاس کښې چې مال دے هغه کس زورور دے۔

ګورئ نه چې دا سرمایه دار د مال په زور زمونږ خویندې او لوڼه اوچتې کړي۔ لوپټې ترې وتروړي۔جامې ورته ریښې ریښې کړي عزت ئې تار تار کړي۔او جنسي تیري پرې کوي۔ بیاخو ئې یامړې کړي یا ئې په چا خرڅې کړي۔

هغه بې وزله بیاپه رنډي خانو کښې د شرم د لاسه پرتې وي خپل بدن خرڅوي۔

کورونو ته د شرمه راتللې نه شي۔



هغه بیا د ذلالت د ژوند تر آخري سلګۍ په دې ناسوراخته وي۔

او دا ئې لاپاتې چې کوم بړوا ئې د جسم فروشۍ دلالي کوي هغه ځان ته مذهب پرست وائي او ځان د خدائے منونکے بولي۔د دغه مجبورو بې وزلو بدن خرڅوونکو رنډیو پیسې هم دغه دلال تر ټولو زیاتې اخلي۔

افسوس چې دغه مجبوره رنډۍ نۀ ځان اخستے شي او نۀ د ځان پوښتنه کولے شي ځکه چې دغه د ذلالت دهنده کښې راګیره وي۔

دپرلت دمشر دا تقریر لاجاري وو چې یو کس د لاندې نه غږ وکړو چې داحرامیان دلالان زمونږ د بچیانو سره په مړینه هم غلط کاري کوي ۔ مونږ له د دې څه لاره ګودره لټول او پوښتنه کول پکار دي ۔ دا ځومره سپک کار دے ۔ پخوانو مشرانو به داسې کار ته لویه ګناه وئیله ۔دا خو ښکاره زیاتے دے

مشر بیا غږ پورته کړو۔ملګرو ۔

مونږنن ځکه د ژوند په ضد دا پرلت ورکړے چې پرون ورځ یو حرامي زما د لور د چا چې نسواني بیماري هم روانه وه ورسره ئې په تک شنۀ زور د جنسي تیري هڅه کوله او چې دا مرداره هڅه ئې شنډه شوه نوبیا ئې ووژله ،زمونږ د چم خلقو پرون ماښام ښخه کړه دغه حرامي د شپې بیا د قبر نه رابهر کړه اوپه مړینه ئې ورسره جنسي تیرے وکړو۔مشر په ژړا شو ۔

بیا ئې په سلګو سلګو کښې ووئیل چې دا زیاتے خو وشو د پاسه ئې پرې دا ظلم هم وکړو چې کفن ئې ترې یوړو

www.pukhto.net

نوکه هرڅه ئې کولې خوپه لوڅ لغړجسدخو به ئې خاورې وراړولې وې کنه چې بې ستري خو ئې نه کيدله۔

زه څه د هغه په خبر بړوا خو نه يم چې د هغې پيسې واخلم۔ زما خو دغه ايکي يوه لور وه۔ د خلقو خو نورې لوڼه هم شته

مشر د ژړا نه شين شو او په خوټ خوټ ئې وژړل۔

يو بل مشر پاسيدو ددې مشر د لاس نه ئې بنپو واخيستو او په زوره ئې غږ وکړو چې ورونو۔

د نن نه پس زمونږ د پلارانو نيکونو د وختونو پخوانے شمشان گهاټ موجود دے ،دا ستاسو د پاره ويړيا دے۔

زه خو وايم چې که هر څو مونږ د خپلو دينونو نه ويزاره هم يو بيا هم زمونږ دنيکونو په طريقو کښې زمونږ پرده ده زما خو په اخلاص ټولو ته دا غږ دے۔ چې د نن نه پس د چا چې ځوانې او ښائيسته لوڼه خويندې دي۔ هغوئي دې د دوئي مړي دلته زمونږ شمشان گهاټ ته راوړي چې د خپلو سترگو وړاندې ئې سوزوو۔

د صفی سرحدی د افسانې ''زندگی کے خلاف مظاہرے میں شرکت'' نه مرکزی خيال ماخوذ۔

◈◈◈



# کفاره

هغې چې په رسيد دستخط کولو نو اول داسې ورپيده او بيا ئې په نهٔ زړه د اخري قسط پيسو ته لاس کړو.

تاجي ورله پيسې ورکړې خو سم دستي ئې ورته ووئيل چې

بی بی ځان له څو ورځو کښې غم کوی. زما اوس دا کور پکار دے. دا زه اوس مرمت کوم او تاسو بل چرته ځان له غم وکړی.

دې وخت کښې هغه يوځل بيا په پړوني کښې راټوله شوه اوغريو نيويلی اواز کښې ئې ووئيل .

وروره !مونږبه چرته ځو؟ زمونږ خو د الله نه سيوا بله اسره نشته.

د هغې اواز نور هم ژړغونے شو او ورسره سلگو هم ونيوه.

د هغې درې کلن بچي چې مور په ژړا وليده نو هغه هم په ژړا شو او زر ئې د مور د مری نه خپل واړه واړه لاسونه راتاوکړل۔ او يوه داسې بې اختياره کريکه ئې د خلې اووتله چې زما د زړهٔ ويخ ئې وبوږنولو.

زما ټول حواسونه ئې وذبيخل۔

او بیخي داسې راته وبرېښېده لکه زما خپله خور یا مور وي او ورته د تاجي غونډې قبضه ګر کسان ولاړ وي او د کوره ئې په زور وباسي. او دغه کسانو کښې زۀ هم ورسره وم.

هو..دې کښې خو شک نشته چې زۀ د تاجي په دې کسانو کښې یم او د ډېر وخت نه ئې ملګرے وم خو ځان مې نن په دغه هنداره کښې په وړومبي ځل ډیرسپک ولیدو.

زه د تاجي په دې کاروبار کښې شریک ملګرے وم .

زما وظیفه په سرکار کښې د پټواري وه او زۀ، زمونږ تحصیلدار صیب او یو اهل کار په دې کار کښې د تاجي سره د ډیر وخت نه د زمکو او کورونو په قبضه ګروپ کښې شریک وو.

د تاجي کار دا وو چې څوک حاجتمند به ئې ولیدو هغه له به ئې پیسې ورکړې،کور یا زمکه به ئې د سرکار په کاغذونو کښې د مقرره قیمت په وعده د خپلو څو کسانو په مخکښې بیه کړه بیا به ئې زما خوا له راوستو ما به هغه ته د سرکاري قیمت نه هم کمه بیه وښودله،حالانکې د مارکیټ ازاد قیمت به درې څلور چنده اوچت وو خو ما به هغه له سرکاري قیمت وښودلو ځکه چې زۀ پټواري وم اوماته هر څه معلوم وو،که هغه کس به د مارکیټ خبره وکړه نو دوه درې کسان شاهدان به ئې په هغه تاجي تیر کړل چې د دوئ په مخکښې دې د سرکاري قیمت په نرخ راکړې ده ، هغه به تاجي ته دستخط وکړو.

څو ورځې پس به تاجي لږې لږې پیسې ورکولې او په اخر کښې به زۀ هم ورسره لاړم او یو اهلکار به مو هم ځان سره بوتلو. هغه به د دروازې مخې ته ځان سره په بیګ کښې راوړي کیپ او



بلیټ دکشمیري جامود پاسه واچولو نو یو قسم داسې ایمپریشن به ئې ورکولو چې ګویا دا دپولیس کوم سړے ورسره راغلے دے.

د کور مالک به مو ویرولو یا بچي به ئې ویریدل او چې کومې پیسې به ئې پاتې وې هغه به مو ورکړې او د څو ورځو مهلت نه پس کور یا زمکه به ئې تاجي ته حواله کړه.

تاجي به دغه ځائے د مخکښې نه په چا خرڅ کړے وو او چې پیسې به ورله په ګوتو ورغلې نومونږ له به ئې هم خپل خپل حساب راکړو. خو نن دغه ښځې سره وړوکي بچي زما روح ولړځولو.زما مخ ته زما خپله خور،مور، کور ودانې او خپل بچي تلل راتلل.

چې که هغوي په داسې ټګانو واوریدل نو بیا؟

ما تاجي ته ووئیل چې لږ صبر وکړه،دوئ چې تر کومه پورې بل چرته بندوبست نه وي کړے نو دلته به وي او تاسو له به کرایه درکوي. زۀ په شغ د هغې له کوره را ووتلم.

دا زنانه ما نه پیژنده خو دومره راته معلومه وه چې د وارث خان نومې سړي کونډه وه څوک چې په منډهۍ کښې د یوګاډي لاندې شوے وو او په ټکي مړ شوے وو. تاجي هغه له هم روپۍ ورکړې وې او دغه کور ئې ورسره کال وړاندې بیه کړے وو خو تاجي د کوره زر ځکه نه ویستو چې د ټولوپیسو بندوبست ئې نۀ وو شوے یا د شوفعې نه یریدلو.خو هر څه چې وو د هغه د مرګ درې میاشتې پس تاجي زه د ځان سره بوتلم او هغې زنانه چې مونږ ولیدو نو ډیره ویریدله او ډیر په نه زړۀ ئې کور ته دننه کړو .

اول خو ئې ځان سره پس پس وکړل خو بیا ئې پیسې په نۀ زړۀ

www.pukhto.net

واخستې خو داسې غريو ونيوله چې بل شان کيفيت پرې راخور
شو.ورسره دغه ماشوم ئې داسې ناڅاپي او بوږنونکې کوکې او
کريکې ووهلې چې زما ئې حشر نشر يو کړو.

په ماښام ما خپله کوروادانه د ځان سره کړه او د هغې ښځې
کور ته لاړو.زۀ بهر ودريدم او ښځه مې دننه لاړه ما خپله ښځه د
اول نه پوهه کړې وه،هغې ته مې ټول حال احوال وئيلے وو او هغه
هم زما په دې خبرو ډيره زياته متاثره شوې وه .

هغې دغه زنانه له طبع تسلي ورکړه چې الله به خير کړي او
زما خاوند به درله انشاالله ضرور څه نه په مخه درک جوړوي .
تاسو فکر مه کوئي.

سحر چې زۀ خپل دفتر ته ورسيدم نو تاجې د مخکښې نه
راغلے او ناست وو.

ماتاجي ته ووئيل چې داسې وکړه چې درې څلور ساعته پس
راشه تا سره مې ډير ضروري کار دے.

د زمکو نقشو ،کاغذونه او نورو کارونو نه چې اوزګار شوم
نو تاجے هم رارسيدلے وو.

ما تاجے ځان سره روان کړو او يو داسې ځائے ته مې بوتلو
چې هغلته ابادي کمه کمه وه . مخامخ لويه هديره وه،ورسره خوا
کښې وړوکے غوندې جماعت هم وو .

زه چې کله جماعت ته ننوتم نو تاجے موسکے غوندې شو او
ما ته ئې ووئيل چې بابو صيب خير خو دے کنه

ما ورته ووئيل تاجيه راځه دننه څه ضروري خبرې کوو

تاجے مې په جماعت کښې کښينوو او خپل د زړۀ ټول احوال



مې ورته بيان کړو.

تاجے يوې شيبې له غلے ووبيا ئې سر را اوچت کړو او ماته
ئې ووئيل چې بيا ستاسو څه خيال دے؟

ما تاجي ته ووئيل چې تاجيه زۀ تا نه ايکې يوه مطالبه کوم

او هغه دا چې دا کور تۀ په دغه ښځه خرڅ کړه چې څومره
پيسې غواړې هغه به زۀ درکوم او د هغې په نوم به د کور د
ملکيت کاغذونه هم زۀ په خپله خرڅه انتقال کړم.

تاجے يوه شيبه غلے وو

بيا ئې چې هوش اوحواس په ځائے شو اويقين ئې راغلو چې
زه د زړۀ نه دا غواړم .او څه چل چالاکي نۀ کوم نو په مخ ئې رڼا
غوندې راغله

راته ئې ووئيل ئې چې بابو صيب !!!

ډير کارونو مو سره په شريکه کړي دي او ډير ګټلي څټلي مو
هم په شريکه کړي، تاجے به دلته هم درسره شريک وي که ګټه وه
او که تاوان په يو ځائے به وي.

زه پاسيدم او تاجےمې ترغاړه ويستو .هم دلته مو د الله شکر
ادا کړو .

په سبا مو ټول کاغذونه يو ځل بيا تيار کړل.تحصيلدار
صيب ته مو هم ټوله قيصه تيره کړه هغه هم څه شيبه غلے وو .

په خله ئې هيڅ هم ونۀ وئيل په چپه خله ئې دستختونه وکړل

چې د کاغذونو کار تمام شو نو زۀ او تاجے نيغ خپل بينک ته
لاړو .تاجي له مې پيسې ورکړې.تاجي د نرخوي چې څومره پيسې
د هغې ښځې مرحوم خاوند له ورکړې وې د هغې نيمې ئې

واخستې او نيمې ئې په خپل ځان ومنلې.

مازيگر مونږ دواړه د خپلو کورودانو سره د هغې ښځې کور ته لاړو.زمونږ ښځې د هغه تور سرې کور ته دننه شوې او مونږ د دغه کلي دوه درې مشران هم ځان سره کړل او د کور خوا ته په يو درنگلي (ميدان) کښې کښيناستو

لږه شيبه پس هم هغه ښځه دخپلو بچو سره راووتله او چې د خلې نه ئې غږ وتو نو يو ځل بيا غريو ونيوله مونږ نه ئې د کور کاغذونه د مشرانو په مخکښې واخستل.

ښځه د ژړا نه اوس هم رپيدله خو زما يقين جوړ وو چې دا د يرې ژړا نهٔ وه بلکې د خوشحالۍ او شکر کيفيت وو.

◈◈◈



# انجام

منظور سره زما ملاقات په داسې عجيبه حواله وشو چې لږه شيبه پس له زهٔ په دې پيژندگلو پښيمان هم شوم.

د هغوئ د خاندان دا ازادانه ماحول زما خوښ نهٔ وو ، په عرف عام کښې داسې کورنۍ ته خلق خوشحاله کورنۍ يا برگر فيملي وائي.

منظور چې کله د پاکستان نه د عربو هيواد ته راغلو نو ځو ورځې خپل اوښي سره په کور کښې اوسيدو خو د او ښي کور ئې د ښار نه لږ بهر وو

نو هغه ديوملگري سره په ديره کښې ځائے کړو مقصد ئې دا وو د

چې د دغه ځايه به ځان له کار روزگار وگوري.

منظور هم لکه د نورو خلقو په شان ځان له د موټروانۍ لائسنس راواخستو

په عربي هيوادونو کښې د کاميابۍ دپاره اوله پوړۍ د ډرائيورۍ لائسنس گڼل کيږي. اوښي ورله يو درې ټنيز پيک اپ واخستو. چې دغه پيک اپ ددې مارکيټ نه چلوه.ځان له پرې مزدوري کوه.

منظور تر دولسم پورې سبق وئيلے وو ،

www.pukhto.net

په شکل صورت ښائیسته وو.او په وطن کښې ئې لږ ازاد او نیازبین ژوند تیر کړے وو

څو میاشتې ئې پیک اپ وزغلولو خو لکه عربو ته راغلي د هر یو نوي کس په شان منظور هم د زر زر مالداره کیدلو او مخکښې تلو په هڅه د ډیرو پیسو د ګټلو په تکل کښې وو .

ډیر زر ئې د پیک اپ د مزدورۍ نه ئې زړهٔ موړ شو او چرته د نوې نوکرۍ یا بزنس په تلاش پسې ئې هلې ځلې شروع کړې.

اوښے ئې هم دوړه باز غوندې وو او هغهٔ ته ئې شنې سرې جوړې کړې وې چې دابه کوو او داسې به کیږي.

څه موده پس ئې چې کله څه کار یا څه نوے بزنس و نهٔ موندو نو منظور تنګ شو او اوښي سره ئې هم ترخې ترشې ووئیلې مجبوراً اوښي ورله ټیکسي موټر واخستو.

په ټیکسي کښې د منظور دنیا بدله شوه..د کور غم ددهٔ سره هسې هم نهٔ وو،وادهٔ ئې نهٔ وو کړے یو ورور یوه کشره خور او یوه مور ئې په وطن کښې هم د اوښي په کور کښې اوسیدل،پلار ئې چرته غیرملکی ښځې سره بل ځائے اوسیدو.

خور ئې په سکول کښې استاذي کوله کشر ورور ئې سبق وئیلو او مشرې خور کومه چې دلته په عربي هیواد کښې دخپل خاوند سره اوسیده او دخاوند دپیسو واک اواختیار هم د هغې په لاس کښې وو،د منظور په وطن کښې کورنۍ ته میاشت په میاشت خرچه به هم دغه مشرۍ خور لیږله .

په منظور د کور ذمه واري نهٔ وه هغه به په ټیکسي کښې ځان له ائیرکنډیشن او ټیپ ریکارډر لګولے وو او د خوند رنګ



سورلۍ به ئې پکښې وړلې راوړلې.د شکل صورت نه سور سپین او ښائسته سمارټ او تعلیم یافته ځوان وو، ځان له ئې یوه رنګینه دنیا سازه کړه او په خوند رنګ ئې خپل وخت تیریدو بیا به ډیر کم زمونږ په نظر راتلو

څوورځوکښې پرې معلوم شوم چې منظور خوبیخي بدل شوے دے.پینټ شرټ او ټائي چشمې ئې اچولی وي او قسم قسم ښځې ګرځوي.

یوځل نیم مو په خپله هم ولیدو او اواز مو پسې هم وکړو خو منظورځان ناغرضه کړو او ټیکسي ئې په هوا د هغه ځایه وویستو.

منظور به بیا په هغه ځائے کښې نهٔ ګرځیدو چرته به چې د هغه پیژندګلو کسان ګرځیدل.

یوه ورځ منظور ما په یو هوټل کښې ګیر کړو چې د سحر ناشتې ته ناست وو.

خیر منظوره .هډو ښکارې نه ظالمه!! ژوند دې لکه ښهٔ غوړ دے، ماشاءلله دا څومره سمارټ شوے ئې؟

ما پرې اواز وکړو .

هغهٔ هم ما سره ګړه بړه وکړه او د چائے ناشتې ست نه وروستو ئې ډیر په خوند کښې ووئیل چې

یارشکر دے چې ژوندمې په خوندرنګ دے تاسو خو په ما پیک اپ چلوو توبه خدایه څومره ګرمۍ کښې !!!

خدائے دې د فلانکي سره ښهٔ وکړي چې د ټیکسي مشوره ئې راکړه او پیسې ئې هم راکړې.

www.pukhto.net

منظور ماته داسې د ګیلې او شکایت ډک ځواب راکړو چې ګني دې کښې ټول زما قصور دے.

د کوم سړي نوم چې منظور واخستو هغه هم ښۀ عیاش سړے وو او د منظور سره دوستي ئې هم د څه مقصد لاندې جوړه کړې وه.

څه موده پس خبر شوم چې منظور خپل ټیکسي د یو ولاړ ټرالرسره وهلے دے. منظور خدائے پاک بچ کړې دے خو ټیکسي ئې چورلټ ختم شوے او کچرا شوے دے.

منظور یو ځل بیا د اوښي در ته کښیناستو او میاشت نۀ وه تیره شوې چې هلته ئې اوښي سره لاس واچولو او هم دغه ورځو کښې یوه ورځ زما دفتر ته راغلو.

د راتلو سره سم ئې زما منت شروع کړو چې په خدائے به شي او په تا به شي.ستا ډیرو خلقو سره تګ راتګ دے او سوشل حلقه دې هم زیاته پراخه ده زما د پاره څه کار روزګار وګوره.

زما په زړۀ وخوږیدو او ورته مې ووئیل چې ښه سمه ده چا سره به خبره وکړم.

څو ورځې پس یو اشنا ملګري راته ووئیل چې زما د پاره یو تعلیم یافته او سوشل مائنډډ ډرائیورپکار دے خو چې خپل کار کښې ایماندار وي.

ما زړۀ کښې کړل ریبل چې منظور ورله ورولیږم که نا

ځکه چې داسې اعتباري هم نه وو او دغه سړے او د هغۀ کورنۍ ډیر اعلي تعلیم یافته او د یو لوئې ملک باشندګان وو،اګرچې هغوئ هم زمونږ د هیواد پخواني وطنوال وو خواوس



ئې جنسیت بدل کړے وو.

ما زړۀ کښې ووئیل چې کیدے شي منظور دلته سم شي او خپل کارسره کار ولري،پردے وطن دے او بیروزګاري د سړي ملا ماتوي.

ماښام زۀ د منظور سره د هغه سړي بنګلې ته لاړم هغۀ په ډیر ښائسته ساحه کښې اوسیدل.

د کور کرایه ئې د حکومت له لوري وه په کور کښې ئې ښځه،بچي او یوه فلپینۍ خادمه هم وه

د کورمالک او میډم په یو ځائیګي کښې په ډیرو لوړو عهدو کار کولو.

ما منظور ته خپل پالتو پینټ او شرټ ورواغوستل او د کور مالک سره مې ددۀ نوکري پخه کړه.

منظور په مرسیډیز ګاډي کښې ماشومان سکول ته وړل او کله کله به ئې میډم خپل د کار ځائے ته راوستله .

منظور به چې کله د کور د کارونو نه اوزګار شو نو په خپله کمره کښې به فلمونو ته کښیناستو ورو ورو ئې د دې کور د فلپینۍ خادمې سره لین دین جوړ کړو۔

څه دوه میاشتې پس منظور ما ته فون وکړو چې زۀ ستاسو دفتر ته درځم خو په داسې وخت کښې چې نور څوک نۀ وي ځکه چې ما سره به خاص میلمانۀ هم وي.

ما تشویش غوندې وکړو خو بیا مې ورته ووئیل چې ته یوه بجه راشه نو زۀ به دفتر کښې یوازې یم ځکه چې په عربو کښې د اتو نه تر دولسو ډیوټي وي بیا تر څلورو بجو پورې چهټي وي او

بیا د ځلورو نه تر شپې اتو پورې ډیوټي وي..اوس د یو شفټ ډیوټي هم شروع شوې ده خو هغه وخت به داسې تقریباً په هر دفتر او عن چې په بازارونو کښې هم چھټي وه.

منظور څه د پاسه یوه بجه زما دفتر ته د دوو فلپینئو جینکو سره راغلو .

په دفتر کښې نور څوک نهٔ وو زهٔ په خپله کمره کښې ناست وم او منظور سره مې چې داسې شوخې شنګې جینکۍ ولیدې نو په ورمبي فرصت کښې وارخطا شوم او بیا مې سم دست د ایم ډي کمرې ته دننه کړل ځکه چې که څوک نهٔ وو بیا هم د چا د راتللو امکان مو نهٔ شو رد کولے.

ما هغهٔ ته ووئیل چې دا څوک دي راوستل او ولې؟

هغهٔ ووئیل چې دا یوه بس زما ښځه وګڼه ځکه چې دې سره زه عنقریب وادهٔ کووم او دا بل د فلانکې صیب په کور کښې کار کوي او کامرس ګریجویټ ده.

ما ورته ووئیل چې د خدائے بنده دا دې څه مردار کار وکړو که څوک راغلل نو زه به په مفتو کښې بدنام شم.

هغه ووئیل چې نه یره دا خو زه هر وخت چکر له راوباسم.

ما ورته ووئیل چې ته به ئې ګرځوې خو زما ځائے ته دې ولې راوستلې؟

هغه ووئیل!

زما دغه ګرل فرینډ لږه بدګمانه شوې ده ما ورته وئیلي دي چې زهٔ تا خپل مشر ته بوځم هغه به تا ته ووائی چې زما بله ښځه نشته.ما ورته ووئیل چې دا د ښځو په ازار ما ولې وهې ورک شه



مړه.هغه ووئیل چې قسم دے دې سره زهٔ وادهٔ کوم ځکه چې دا مسلمانه ده او ښائیسته تعلیمیافته ده او زما دوطن د ودونو هسې هم وس نهٔ کیږي پلار مې هم دویمه ښځه غیر ملکي کړې ده او زهٔ به ئې هم کوم، په ما هیڅ پابندي نشته او نهٔ زهٔ د چا پابندي منم

ما نه هغه جینۍ ددهٔ د وړاندې تپوس وکړو چې انکل !!

د منظور بله ښځه شته؟

د دوؤ بلبلو په مینځ کښې د انکل د ا تورے راباندې لږ زیګ زیګ غوندې ولګیدو ،ځکه چې زهٔ که هر څو خفه او غصه هم وم خو دغه د دوؤ شوخو جینکو دا ماحول بیخي رنګین کړے غوندې وم،او لا دومره بوډا خو نه وم.

ما هغې ته په نیم خوالۍ سره داړې چینګې کړې او ورته مې ووئیل چې لا تر اوسه خو ئې وادهٔ نهٔ دے شوےد مسقبل نه الله خبر دے.

هغې جینۍ ووئیل.

نو نو...زه بل وادهٔ نه منم.

دا خو ستا په مینه او پوهه پورې اړه لري چې تهٔ دې څومره په کنټرول کښې ساتلے شې. ما هغې ته ځواب ورکړو.

دواړو جینکو په یو ځائے وخاندل.

دغه بله جینۍ ډیره ښائیسته وه او زما نظر پرې لږ لږ خوږیدل شروع شوے وو.

دا خو ډیره سمارټ جینۍ ده؟

ما د محفل په دې رنګ کښې یوه شګوفه ورلږه کړه .

www.pukhto.net

ولې نه..دا زما خوږه ملګرې انجلینا ده او په ما ډیره ګرانه ده.هغې د خپلې ملګرې نه دواړه لاسونه راتاؤ کړل او په اننګي ئې بوسه هم ترې واخسته، ، ،خو د دې بوائے فرینډ شته !

د منظور ملګري په دې مینځ کښې لکه چې ترې هیر وو خبره ورزیاته کړه.

په دې خبره زهٔ لږ بې خونده شوم خو ما وئیل مړه دا د عیش دلداده خلق دي نن ئې یو بوائے فرینډ وي سبا بل.

زهٔ ددې ملګرې سره په دې بله کمره کښې د دې ښځې نه پټې لږې خبرې کوم تهٔ تر هغې ددې سره ګپ ولګوه.خو چې خفه درنه نهٔ شي.

منظور ما ته ګواښ غوندې وکړو.

زهٔ د الله ساده یم فوراً مې په هغهٔ یقین وکړو او زړهٔ کښې مې ددغهٔ ښائسته جینۍ سره څو د تنهائۍ لمحو ته هم تادي غوندې شوه.نو ما هډو په منظور څهٔ شک ونهٔ کړو.

په وتلو کښې ما منظور ته ووئیل چې زر راځه چې بیا زهٔ کور ته هم ځم.

خیر چې منظور ووتو نو دغه جینۍ او زهٔ په کمره کښې یوازې پاتې شو..زما په ذهن کښې یوه رنګینه دنیا ورو ورو سازیدله او د هندي فلم هغه سندره فوراً رایاده شوه

ہم تم ایک کمرے میں بند ہو
اور چابی کھو جائے.

زما په ذهن باندې اوس د نفس غلبه زیاتیدله،ستا نوم څه



دے؟

هسې د خبرو پیل کولو په نیت ما یو ځل بیا د هغې د نوم پوښتنه وکړه.

انجلینا

هغه موسکۍ شوه او ډیر په مکیز سره ئې خپل نوم راښکلے غوندې وښودو.

ستا بوائے فرینډ چرته اوسیږي؟ ما ډیر په اشتیاق خپله جمله ورلړه کړه.

دا ډیر پرسنل سوال نهٔ دے؟

جینۍ زهٔ لږ رایسار غوندې کړم

سورې.

ما ورته خپله پښیماني ښکاره کړه

زهٔ د خپله ځایه اوچت شوم او دوه درې قدمه مخکښې وروستو تلو راتلو نه پس بیرته په صوفه کښیناستم

تاسو له چائے راوړم که یخ؟

ما وئیل چې څه د خبرې جوړیدو جواز خو پیدا کړم.

نو تهینکس!!

مونږ به لنچ د پاره کنګ کباب ته ځو او هلته به خوړل څښل کوو

اوه ائي سي !!

منظور او د هغهٔ فرینډ ډیر وخت تیر نهٔ کړو؟

ما وئیل که چرته ددې پام هم دغه مزو ته را وګرځیدو!

اوه یس!

www.pukhto.net

پکار خو ده چې راښکاره شي.

ما تندے ترش غوندې کړو او هغې ته مې ووئیل.

دوئ دواړه مزې کوي او زهٔ او تهٔ ساړهٔ ناست یو!!!

زړهٔ کښې مې وئیل که چرته د واورې دا چم ویلے شو.

امم.

دوئ نزدې ملګري دي کنه ؟

مونږ نهٔ شو جوړیدے څهٔ؟

د هغې د خلې نه د خبرې وتلو وروستو

ما هم د شرم قبا د غاړې وویسته او برجسته مې ورته ووئیل

نو نو

زهٔ خپل ملګرے لرم.زما بوائے فرینډ شته..زهٔ هغه له دهوکه نه شم ورکولے..تا ته معلومه نهٔ ده چې دازمونږ کلچرنه دے. د خپل ملګري پرته بیا بل سره داسې تعلق نهٔ شو ساتلے.

هغې زما ټوله خواري عبث وغورځوله

ما وئیل

هسې د خوند رنګ د پاره کله کله.

نو.نو...! نا نا

خیر زهٔ هم ورنزدې شوم ما وئیل چې یار دا خو لکه په سمه خبره نهٔ پوهیږي

ما د هغې لاس د نیولو کوشش وکړو ما ورته ووئیل تا ته پته شته چې زهٔ هسې خوار خوشے سړے نهٔ یم ددې شریکې جنرل منیجر یم

ما په دې جینۍ د خپلې رتبې رعب اچولو یو ناکام کوشش



وکړو.

نو زهٔ څه وکړم؟

زهٔ هم بازاري جینۍ نهٔ یم چې هر سړي سره سوریږم؟

هغه بیا زما هر څه په سوړ سیند لاهو کړل.

مړې تهٔ به کیدے شي هسې ست غواړې.هسې ژوند انجوائے کول پکار دي.

او دې سره لږ غوندې مې ځان ورنزدې کړو.

هغه له خپله ځایه پاسیده او ما ته ئې دړکه وکړه که چرې تهٔ نهٔ سمیږې نو زهٔ ددې ځایه ځم، ،نه نه سورې سورې.

ما خو تا سره ټوقې کولې.

زهٔ ستا قدر کوم چې تهٔ د دومره د غټ کریکټر جینۍ ئې.ما سوچ کولو راشه د منظور د چنغلې دغه ملګرې معلومه کړه.چې د دې کریکټر څنګه دے.

ته پخپل ځائے کښینه پلیز.

زه بلکل تاسو ته هیڅ نه وایم او پلیز چې مائینډ نه کړې او نه منظور ته وائې ځکه چې هغه زما ډیر احترام کوي او هسې نه چې ما نه خفه شي!.

زما په زړهٔ کښې د منظور دپاره اور بل وو او غوښتل مې چې څومره زر کیدے شي د مصیبت لهٔ دې ځایه ووځم.

د انسان نفس ډیر ګنده څیز دے کله چې د هغهٔ د خوراک شے حاصلیږي نو ټوله دنیا په اور اچوي او کله چې د نفس خیټه مړه شي یا ناکامه شي نو بیا ئې ډار او ویره راواخلي.او په خپلو کړو پښیمان وي زهٔ هم ویریدم .

PUKHTO.NET

ماته هم دا دواړه جینکۍ اوس د شیشکو په شان ښکاریدې.

زه والله که په دې خبره پوهه وم چې منظور د خپلې ګرل فرینډ سره یوازې څه کول غواړي ما وئیل ګوندې څه د پردې خبرې به کوي.

په داسې ډیرو موقعو ما کله هم په بل چا څه بد ګماني نۀ ده کړې.

په منظور مې د کمرې ور ووهو او ورته مې ووئیل چې انجلینا تلل غواړي وائی چې ناوخته شو او نۀ ایساریږي هسې نه چې لاړه شي او بدنام دې کړي زر راوځه..

هغوئ لږه شیبه پس راووتل او ما ته ئې ووئیل

تا خو به څه ورته نۀ وي وئیلی؟

زما په زړۀ کښې یوه لویه کنځله راپورته شوه چې دې اوس زما په ځائے کښې ما نه پوښتنه کوي.

خوداهر څه مې وزغمل او ورته مې ووئیل چې نه. معلومیږي داسې چې د هغې تادې ده.

ښه ښه خیر دے. بس مونږ ځو اوس دوئ له به لنچ هم ورکوم نن.

تۀ ځې مونږ سره؟

ما وئیل زما د پلار هم توبه ده خو ځان ورک کړه ددې ځایه؟

منظور زما په وران شکل پوهه شو او ځان سره مسکے غوندې شو او هغوئ ته ئې ووئیل چې تیارې شۍ چې ځو.

دوئ زر زر ځان تیار کړو او زما د افس نه ووتل

ما زړۀ کښې ووئیل یار زۀ اوس دومره خو بوډا هم نۀ یم دغه



35 -36 کاله عمر څه دومره ډیر خو نۀ وي او دا شکل مې هم دومره بد خو نه دے چې څوک راته انکل وائي او څوک راته هیڅ لفټ نۀ راکوي

بیا مې یو سوړ اسویلے وویستو او په خپل نفس او شیطان مې لعنت ووې چې هغه کرسټنه ځوانه پیغله هم زما نه ښه وه. بیا مې شکر وویستو چې د لوئې ګناه نه بچ شوم،.

منظور چې لاړو نو ما هم د دفتر نه خپلې دیرې طرف ته پښې سپکې کړې.

په سحر چې دفتر ته راغلم نو پروني ټول واقعات مې په خیالونو کښې چورلیدل.

زۀ په دې هم پښیمان وم چې د هغه کور والا پاکستاني نژاد برټش داکټر چا چې زما په خواست دغه منظور بدبخته له نوکري ورکړې وه او دې هـغه حرام ته ګوره چې هم د هغه کور په تالي کښې ئې سورے وکړو په کوم کښې چې خوري څښي.

یوه میاشت وروستو خبر شوم چې منظور پولیس نیولے دے .منظور اصل کښې هغۀ د ډاکټر کور پرېښودلے وو چرته چې ما په کار ورسره کړے وو او دغه وخت د بل چا انګریز پائیلټ په کور کښې ډرئیور او د کور منتظم غوندې نوکر شوے وو.

هغه پائیلټ د چا شاهي خاندان د یو اعلي وګړي سره نوکر وو اکثر به په هفتو او میاشتو نه وو.

نو په دغه دوران کښې به منظور د هغۀ په مرسیډیز کښې کله یوه فلپینۍ او کله بل څوک ګرځوله او دغه کور ته به ئې راوستله.

www.pukhto.net

څو کسان پښتانهٔ او پنجابیان ملګري ئې هم په دغه عیاشۍ
کښې ځان سره ملګري کړي وو۔

خو منظور داخل د سره نه بلکې دې یوې پښتنې کویژدن
شوې جینۍ سره نیولے شوے وو۔

او د ټولو نه زیاته خطرناکه خبره هم دغه وه .اکثر به مونږ په
خپلو مجلسونو کښې نورو کشرانو ملګرو ته هم دغه تاکید کولو
چې په پښتنه معاشره کښې یوه ښځه که د هر څومره کمزورې
سړي لور خور وي بیا هم د هغې د عزت او عصمت بدل د هغې
تربور عزیز هم نهٔ پرېږدي۔

دغه طرف ته هډو پام ونهٔ کړې۔

په دغه شپه منظوردغه جینۍ دکوره راویستې وه اوخپل د
مالک په کور کښې ئې دوه درې ساعته ورسره د تیرولو وروستو
چې د بانګونو په وخت کور ته بیرته ستنوله، نو پولیس ورته د
جینۍ د پلار د کور په دروازه کښې ولاړ وو۔

د شپې د ښځې مور چرته اوبو څښلو له راپاسیدلې وه .د لور
کټ ئې خالي وو هغه اخوا دیخوا ولټوله خو چرته ښکاره نهٔ شوه

زر زر ئې خپل زامن راپاسول بیا هغوئ هم چې هر طرف
جینۍ لټولې ده،اوجینۍ ئې پیدا نهٔ کړه نو پولیس ته ئې ټیلیفون
وکړو .پولیس په لسو دقیقو کښې راورسیدل.

او دوئ ته ئې ووئیل چې بس نور کار زمونږ دے تاسو دننه
په ارام کښېنئ۔

منظورچې څنګه د هغې د کور ورته خپل ګاډے ودرولے دے
پولیس ئې په سر نیغ ودریدلي دي او سره د دغه پیغلې ئې



مرکز(پولیس سټیشن) ته رسولے دے

په داسې کارونو ټول پښتانهٔ خواشینې کیږي.

که څوک پښتون په داسې تور کښې ونیولے شي نو بل
سنجیده پښتون خامخا خفه کیږي بیا چې په پردي وطن کښې د
وطن ښځه بدنامه کیږي نو په هغې خو څو ورځې خفګان وي .

زه هم خفه شوم چې ظالمه منظوره.

اول خو دا کارونه نهٔ د اسلام د لورې ښهٔ دي او هم په پښتنه
ټولنه کښې دداسې سړي سترګې دخپل خاندان او وطنوالو په
مخکښې ټیټې وي.

دا خو پردے وطن دے خو په وطن کښې د داسې پیښې
علاج صرف د ټوپک ګولۍ ده.

خیر خبره په دیرو او حجرو کښې خوره شوه..د داسې کارونو
ملګري هم وي هغوئ منډې ترړې جوړې کړې د جینۍ پلار او
ورونړه ئې رضا کړل،چې اوس هسې هم غلط کارشوے دے
پردے وطن دے او لور ته به دې کوږې او د بند سزا ورکولې
کیږي نو روغه جوړه وکړه دواړه به یو بل ته په نکاح کښې ورکړو

پلار او ورونړه ئې مجبوراً رضا شول په شریکه قاضي ته لاړل
او قاضي ته ئې ووئیل چې مونږ به دا دواړه سره یو بل ته په نکاح
کړو..

قاضي د دوئ دا خبره و نهٔ منله او منظور او هغه جینۍ چا
چې د اول نه دپولیسو اوقاضي په وړاندې اقرار کړے وو ،شپږ
میاشتې جیل او 80 کوړې سزا ورته واوروله.

دوئ جیل ته ولیږل شول،د منظورهغه اوښے به کله کله زمونږ

www.pukhto.net

د ملګرو مینځ ته راښکاره شو او شور او ویر به ئې جوړ کړے وو چې زما خبره ئې نه منله او د فلاني فلاني د لاسه دا ټول کارونه وشول.

زما دومره تاوان وشو .ما له به دا اوس څوک راکوي؟

شپږمیاشتې پس منظور چې کله د جیل د سزا خلاصیدو وروستو د یوې اوونۍ په ضمانت راووتو. دغه جینۍ او منظور د جرګه والو په فیصله د نکاح د پاره د قاضي دفتر ته بوتللي شول .

نکاح ئې وتړلې شوه خو د عربو په ملک کښې مجرم که قاضي پریږدي هم خو پولیس ئې نۀ پریږدي.

سم دستي ئې ورته د ټکټونو راوړلو ووئیل.

چې دا به د دې ځایه شړل کیږي

د جینۍ ورونړو او پلار ورله پیسې هم ورکړې چې په وطن کښې بس په خپل کور کښې اوسیږه او مونږ به درله د کور خرڅ درلیږو.

منظور دنوو اوښیانو سره په موټر کښې کله یو ځائے کله بل ځائے ته منډې ترړې وهلې. ډیرو خلقو زور ولګوو چې دا دواړه هم دلته پاتې شي خو د عربو پولیس زمونږ د وطن د پولیسو په شان رشوت خوارۀ خو نۀ دي .هیڅ کار ئې جوړ نۀ شو.

منظور په خپلو کړو پښیمانه نۀ وو،او نۀ ئې سترګې ټیټې وې .

مشر اوښې ئې زما په وساطت یوه جرګه ګۍ غوندې په منظور وکړه چې زما هغه ټولې پیسې به څوک پریکوي؟



منظور زما په مخکښې ورته ووئیل چې د څۀ شي پیسې؟

او چورلټ انکار ئې وکړو چې ستا هیڅ پیسې میسې نشته.

خبره دې حد ته ورسیده چې منظور ورته دا هم ووئیل چې په وطن کښې په کوم کور کښې زۀ اوسیږم د هغه کور ذکر ونکړې، او نۀ ئې نوم واخلې ګني ګیلټ به درباندې ویلے کړم.

خبره هم دغسې ورانه پاتې شوه په مقرره تاریخ منظور سره له دغه نوې ښځې په جهاز کښې وشړل شول.

څه موده خو منظور او د هغۀ ناوې ښځه په مزو کښې وو

د منظور دسترګو نه شرم الوتلے وو او هیڅ پرواه ئې نۀ وه چې ګني ما چرته بد کار کړے دے.

هلته ئې د ژوند ژواک د پاره منډې ترړې شروع کړې.

دلته ئې سخر خواښې ته هم زور ورکولو او د پیسو ورلیږلو غوښتنې ئې هم زیاتې شوې.

کال نۀ وو تیر چې منظور د سخر لخوا په لیږلې شوو پیسو پسې د سخر کلي ته لاړو .

هلته چا ددغه جینۍ چنغول خبر کړو چې هغه کس ستاسو کلي ته راغلے دے کوم چې د هغۀ په نامه منسوبه جینۍ اول بدنامه کړه او بیا ئې په نکاح کړه.

منظورپه ښارکښې سترشوے وو هغۀ ته دکلو اوقبائیلي معاشرې د داسې قسم پېښو او ورپسې د بد انجام څه اندازه نۀ وه.

منظور ښۀ ډاډه وو چې بس ټولې فیصلې شوي دي او ما ته هیڅ خطره نشته خو په پښتنو کښې خلق د ښځې ،لور خور د

www.pukhto.net

عصمت بدل ضرور اخلي.

په حجره کښې چې څنګه منظور ورننوتے دے هغه هلک ئې په سر پورې تماچه ونیوه او هیڅ څۀ د خوزیدو موقع ئې ورنۀ کړه.

پوره شپږ ډزه ئې وویشتو.

منظور په ټکي مړ شو او خلقو د هغۀ هلک په دې کارنامه افرین ووئیل.

د منظور ښځه نن هم د یو ځوی سره کوم چې د منظور د مرګ نه وروستو پیدا شوے وو د منظور د مور سره ناسته ده.

عرض مصنف

◈◈◈



## ریزګاری

نن په لمانځه کښې راته د هلکتوب د وختونو دوه زړې څهرې مخې ته شوې. ژړغونے غوندې شوم ډیر پښیمانه شوم ارمان راغلو چې کاش په هغه وخت مې ترې معافي غوښتې وې خو تېر وخت په بېرته نۀ رادرومي.

تېر ساعت په مثال مړے د لحد دے
مړي چا دي ژوندي کړي په ژړا

د هغوئ ناسا په رایادیدل مې غونے زیګ زیګ کړو.

ما ته نن راپیښ حالات هم د هغې واقعې تکرار کیدلے شي.

داهم کیدلے شي چې زۀ هم نن دهغه وخت سره مخ وم یا راتلونکے وخت په ما هم داسې راتللے شي .باید انسان د هرې واقعې نه سبق واخلي.انسان چې ژوندے وي د هر قسم حالاتو سره مخ کیږي یا د مخامخ کیدو امکان لري،ما په اتم یااووم جماعت کښې سبق وئیلو.غالباً د 1974 خواؤشا واقعه ده .دغه ورځو کښې پلار راله دیوخپلوان نه په شل روپۍ بائیسکل اخستے وو.په بائیسکل مې سورلي زده کړه .چکرې به مې پرې وهلې .خوسائیکل زوړ وو نو اکثر به خراب وو.کله به ئې پیډل خراب وو کله توله،کله به ئې زنځیرشلیدلےوو.پخپله به مې

www.pukhto.net

جوړولو او پخپله به مې خرابولو. په دغه سیمه د مرمت دوکانونه
خو څه کړې چې عام د سود سودا دوکانونه هم نهٔ وو.

دباړې بازار په کوزسرکښې دسائیکلونو دمرمت ایکی یو
دوکان د انور ماما وو.خدا ے خبر چې هغه عاجز به اوس ژوند ے
وي؟ خو خامخا به مړ وی ځکه چې هغه وخت چې مونږ هلکان وو
هغه د دیرشو پینځو دیرشو کلونو اوړیدلے وو.

د څه وخت زړه چاؤدون نه پس مې هغه بائیسکل په شاپور
په شل روپۍ په قرض خرڅ کړو

شاپور به زمونږ کلي ته راتلو کلے څه وو یو کور به وو خو
زمونږ خلق نن هم کور ته کلے وائي.

ما د شاپور کور نهٔ وو لیدلے نهٔ مې د هغه کورنۍ پیژندله
درې سلور کلو میتره ئي لرې کور وو.

د پیسو نیته چې راغله په شاپور پسې لاړم په پوښتنه
پوښتنه مې د هغهٔ کور پیدا کړو د خټو اوکاڼو یوه کوټنۍ ئي وه
.د کور انګڼ ئي نه وو د غنو شپول ئي د کوټې نه راتاؤ کړ ے
وو.هغه وخت باړه کجهورۍ ډیره اباده نهٔ وه. د ډیرو خلقو هم
داسې یوه یوه کوټنۍ وه،په خپلو خپلو زمکواو برخو به لرې لرې
خلق اوسیدل. ډیرو کمو خلقو د تیراه نه کډې راوړلې وې.

زمونږ پخپله یوه اټارۍ وه په 1968 _1969خواؤشا کښې د
خټو کاڼو جوړه وه.ددې اټارۍ هم نیم انګڼ وو نیم ئي بیا
وروستو مونږ په خپله د خټو پسخې او بلاکونو جوړ کړو.

د شاپورکور ته چې نژدې شوم نو اول مقابله مې د سپي سره
راغله دسپونه ډاریدم هم ځکه چې څه موده وړاندې یو زورور



سپي چیچلے وم اوس ئي هم داغونه زما په چپ خنګرې شته.

په زوره مې غږ وکړو چې شاپور شته.؟

یوه زړه ابۍ دسپي په غپه یا زما په اواز له کوره رابهر شوه
ماته ئې وکتل بیا ئې پوښتنه وکړه چې

څوک ئې؟

ما ورته ووئیل چې شاپور شته ؟

شاپور خو بچے نشته.

په ابۍ پسې کونتۍ په لاس یو بابا هم راووتو د دواړو
عمرونه دغه شپیتهٔ اویا کاله وو

ما ورته ووئیل چې زه د فلاني زو ے یم میاشت مخکښې مې
په شاپور سائیکل خرڅ کړ ے د ے

وعده نیته ئې سر ته رسیدلې ده خو بیا مې نهٔ شاپور لیدلے
د ے نهٔ ئې پیسې راکړې دي.

دواړو بوډۍ او بوډا یو بل ته وکتل بیا دغه بابا ماته ګویانه
شو.

د انصاف خاونده،شاپورخولوفر د ے تا ولې په شاپور
بائیسیکل خرڅولو.؟ دا څو ورځې وشوې چې نشته په پته ئې نهٔ
پوهیږم چې باړې قلعې ته تلے د ے که چرته ورک د ے.

دباباپه خبروزمازړهٔ ډوب غوندې شو.ما وئیل لاړې پیسې
ډوبې شوې .ما ورته ووئیل چې نو زما پیسې؟

هغه راته ووئیل چې

انصافداره مونږ په ځان پورې حیران یو.

تهٔ لاپیسې غواړې.د کوم ځائے نه ئې درکړو.

بیا ئې پوښتنه وکړه.

په څو دې پرې خرڅ کړے وو؟

په شل روپۍ.

پو هو شل روپۍ چرته دي.

نو زهٔ څه وکړم ماما...ما خو خپل بائسیکل پرې خرڅ کړے دے هسې خو ئې نهٔ غواړم.

زما لهجه هم ترخه غوندې شوه.

دغه وخت په کجهورۍ کښې دخلقو یوه یوه کوټنۍ وه. باقاعده حجرې لا نهٔ وې جوړې شوې چې د هر وړوکي هلک تربیت پکښې کیږي .

زهٔ دمشرانو په قدر پوهیدم ځکه چې سبق مې په علم ګودر سکول کښې وئیلوخو لا داسې تربیت مې نهٔ وو اخستے چې د مشرانو په مخکښې خبره تیزه یا په اوچت اواز نهٔ وي کول پکار.

زما په خبره بوډۍ ابۍ وریږدیدله

نه نه ولې نه بلا دې واخلم

بچے پیسې به درکړوخامخا به ئې درکوو.ولې به ئې نهٔ درکوو تهٔ لږصبر وکړه .زړهٔ مې ډاډه شو.لږه شیبه پس بوډۍ راغله د دسمال غوټه ئې خلاصه کړه او د ماتو پیسو سیکې ئې راته په تلي کښې کیښودې چې و مې شمیرلې نو دوه نیمې روپۍ ترې جوړې شوې. ما وئیل چې نورې؟.

بچیه هم دغه وې راسره نورو له بیا راشه .

زهٔ هم خفه شوم ما سره بله لاره نهٔ وه ما ورته ښه ووئیل چې ښه بیا کله راشم.؟



بل زیارت له راشه.

زه ترې رار وان شوم.

بل زیارت او داسې ډیرې ورځې پس به وخت په وخت ورتلم .

کله یوه نیمه کله دوه کله درې روپۍ به ئې راله راکړې.ټولې پیسې به دسیکو په شکل کښې وې .د ډوډۍ چائیو ست به ئې هم کولو .

زه به حیران شوم چې دوي ماله پیسې داتهٔ نیز څلورانیز شپږ پیسیز یا پینځه پیسیزاوټیډۍ پیسیزې سیکې په شکل کښې ولې راکوي؟

ولې د کاغذ روغه روپۍ نهٔ راکوي؟

پینځه شپږ کرته تلو راتلو نه پس دغه دوه ضعیفو بوډاګانو ښځې خاوندما له غاړه مې خلاصه دغه نهه نهه نیمې روپۍ راپوره کړې داهم چرته دوه میاشتو کښې دا روپۍ. ما ترې په انیز انیز کښې جمع کړې ما په دا دومره وخت کښې بیا شاپور ونه لیدو.

ما وئیل چې خدایه پاکه دا هلک چرته ورک شو چې د پلار مور نه به مې ددهٔ پوښتنه وکړه چې شاپور چرته دے هغوي به وئیل چې نه یو ترې خبر چې چرته ورک دے خدائے دې د زمکې مخ ترې خالي کړي،چې نور به څومره شرمیږو.یا مونږ خدائے واخله چې اړخونه مو ساړه شي

ته ګوره بچو دا عمر د مور پلار د راحت او ارام وي او مونږ ددهٔ دلاسه کړیږو.

زما زړهٔ به هم خفه شو بار بار په ورتلو مې زړه وټکیدو په

دې ضعیفو بوډاګانو به هم خفه کیدم.

پیسې مې ورته معاف خو نه کړې خو نور مې د قرض د غوښتلونه زړه موړ شو.بیا ورپسې نه ورتلم.یوه ورځ باړې بازار ته تلے ووم

د دوائی دوکان واله سره ناست وم یو بوډا کونتې په لاس د ډاکټر مخې ته ودریدو

هغهٔ ته ئې د خیر خیرات د پاره لاس وروغزوهٔ چې ځنګه ئې د خلې نه اواز ووتو .اواز راباندې اشنا غوندې ولګیدو.

چې ورته مې وکتل د شاپور پلار وو.

ډاکټرورله شپږ پیسیز په تلې کیښودو او بوډا ورته د نیک عمله اولاد دعاګانې په خله مخکښې بل دوکان ته ورتیر شو.

زړهٔ مې یودرد وکړو چې دا دومره غریبانان دي چې خیرات غواړي ؟او ماته دا پته نهٔ وه.

ځان راته ډیر ملامته ښکاره شو.ایله مې سر پرې خلاص شو چې داماتې پیسې اوسیکې دوئ ماله راکولې دا ئې ددې خیراتې پیسو نه راکولې.

◆◆◆



## څلور ملین کراوِن

د سویډن د سر ښار سټاک هوم دیو ټیلي ویژن5 TV نه نیغ په نیغه یو نمائنده دعاجل خبر (بریکنګ نیوز) په توګه خبر ورکوي چې یو ترکي مسلمان خپله ځوانه لورپه دې تور په مرمیو و وژله، چې هغې د یو سویډني هلک سره مینه کوله۔

دا دخپل عزت دپاره (هانرکلینګ) وژنه ده ۔ مسلمانان د خپلو لوڼوخویندوجبري ودونه کوي ۔پکار ده چې حکومت په دې حقله سخت قوانین وټاکي۔

د ناروے تماموټیلویزیونونو باندې هم دغه بریکنګ نیوز پیل شول۔

ورسره ورسره په سوشل میډیا هم هغه ناروا پروپیګنډا پیل شوه چې زما غوندې حساسه سړي بیخي حق حیران کړي چې ددې نه لوئې قیامت به لا بل هم رادرومی۔؟

دلته ددې اروپائی میډیا دا کار دے چې دا اسلام او مسلمان

خلاف یوورړوکے خبرهم د دوئ د نفرت انګیزي پروپیګنډې دپاره کافي وي۔

بیا د داسې قسم پیښې وروستو د ایشئن کمیونټي نه کس نیم خوشاټارې هم ان لائین راواخلي او داسې ناروا پوښتنې ترې کوي چې د اسلام او کلتور سره ئې هیڅ برابري نۀ وي۔

خو بس د تمامو ټولنیزو خرابیو او شخړو الزام بس په اسلام او مسلمانانو باندې د تپلو یوه هڅه وي۔

په اوسلو کښې خو د اخبارونو کار دا دے چې په ځائے ددې چې د ترکي وګړو جرائم د ترکو په سر واچوي او د هغوي سره ئې تربحث لاندې راولي داهم دوئ دپاکستاني یااسیائي مسلمانانو په سر ور تپي۔په خپل کورکښې یوازې ناست وم بچي او میرمن مې وطن ته تللي وو۔

دغو چینلو او خبرو مې چې سر وګرځولو نو د کوره بهر راووتم۔

پیدل پیدل د اوسلو سنټرم پورې لاړم۔

نیم ساعت وروستو زۀ بیاددې ښار په دغه مصروفه کوڅه کارل یوهان (karl johan) کښې ولاړ وم۔ دغه کوڅه street د خلقو نه ډکه وه۔هر سړے په خپل کار کښې بوخت وو۔

مسخریانو او مداریانوهم دروزي ګټلو دپاره رنګ په رنګ تماشې پیل کړې وې۔زۀ هم د ساعت تیرې په غرض دلته راغلے وم۔

ناساپې مې داسې محسوس کړل چې د یوې فاصلې نه یوې ټیلیوزیوني کیمرې زه په خپله ولقه کښې اخستې یم او زما



ویډیوئې جوړوله۔

هغوئ چې د ځان په لور متوجه ولیدم نو یو نمائینده ئې زما په لور رامخکښې شو او زه ئې یوې ډډې ته ودرولم۔

وئیل ئې چې مونږ د TV5 د پاره یو لوئې پروګرام پیلوو۔

په دې پروګرام کښې به د ناروے د لوړې درجې د شوبز فنکاران هم برخه اخلي۔

ددې پروګرام موخه او مقصدد خلقو مورال معلومول دي۔

هرکس چې په دې پروګرام کښې د برخې اخستو دپاره په پچه یا لاټرۍ انتخاب شو هغه به پکښې برخه اخلي۔

او چې د پروګرام تر اخره پورې ورسیدو او د تیلویزیون غوښتنې ئې پوره کړې هغه له به څلورمیلینه کراؤن په انعام کښې ورکول کیږي۔

داانعام تاسو هم ګټلے شئ۔د لاټرۍ دپاره خپل نوم او ادرس مونږ سره ولیکئ۔که ستاسو نوم په پچه یا لاټرۍ کښې انتخاب شو۔

مونږ به بیا تاسو په دې لویه شوې یا پروګرام کښې راوغواړو۔

ماورته ووئیل چې اول خبره خو دا ده چې زۀ مسلمان یم۔ دویمه خبره داچې ستاسوپه دې میډیا زما باور نشته،دریمه دا چې تاسو په نارویجن ټولنه کښې بدګماني او نفرت زیږوئ۔

رپورټرراته مسکے شو او وې وئیل چې ښاغلیه ممکن ده چې ستاسو خبره صحیح وي خو زمونږ دا پروګرام د مختلف نوعیت دے په دې کښې مونږ د انسان وجدان ضمیر او د مورال

کچه معلوموچې یوکس څومره مادیت ته نژدې او بل څومره انسانیت ته نژدې دے ـ،مونږ د ځوانانو جینکو او ځلمو ترمینځ دوستي جوړوو۔

بیا ئې مختلفو هیوادونو ته په چکر لیږو مونږ ګورو چې دوئ د یو نوي ژوند آغاز کوي که بس دا څو ورځې عیاشي کولو وروستو د بل ملګري لټون غواړي۔ ګمان کوم تاسو به داسې قسم پروګرامونه په تیلیوزیونی چېنلو لیدلي وي۔

زۀ ئې په دلائیلو قائل کړم بیا مې دا فکر هم وکړو چې 4 ملئینه کراؤن څه وړوکے رقم نه دے ـکه مې وګټلو نو ژوند به مې پرې جوړ شي۔

ما ورته خپل ادرس او ټیلفون نمبر ورکړو او د دوئ له اړخه د معاهدې فارم مې دستخط کړو۔

لږه شیبه پس کور ته راستون شوم۔ په تیلویزیون هم هغه شان درز غوبل جوړ وو۔

دوه اوونۍ وروستو یو بل فارم ئې په ډاک راولیږلوچې په هغې کښې ئې شرطونه لیکلي وو چې

1:په دې پروګرام کښې فقط وادۀ کړې جوړې حصه اخستلې شي۔

2:په دې پروګرام کښې هغه کسان برخه اخستې شي چې چا سره د ناروے تابیعت یعنی جنسیت وي

3:که بالفرض په کومه موقع د دې پروګرام په وخت کښې د خپلې میرمنې سره بیلتون یا طلاق واقع کیږي او په داسې صورت کښې د 4 ملینو کراؤن انعام ګټي نو بیابه دغه میرمن په



ټول ژوند کښې ددۀ سره نه یو ځائے کیږي که چرته خلاف ورزی ئې وکړه نو دا ګټلې پیسې به واپس کوي۔

4:پروګرام به نیغ په نیغه په سکرین لائیو رادرومي او په دې کښې به تماشبین د ټکټ په ذریعه شرکت کوي،د ټکټ قیمت به 500 ـ1000 او 1500 سوه کراؤن مقامي کرنسي وي۔

ما د شرطونو فارم ډک کړو او دوئ ته مې په ډاک وروليږلو۔

څلوراوونۍ وروستو د تیلویزیون له اړخه یو مکتوب راغلو چې پکښې ئې ماته مبارکي رالیږلې وه چې ستا دنوم انتخاب د کمپوټري لاټرۍ د لارې شوے دے۔ تاسو په فلانې تاریخ د خپلې کورنۍ د غړو سره راتللې شۍ۔

په تیلویزیون به هره ورځ د دې پروګرام د پاره اشتهارات راتلل او دا ئې د ناروے په چینل TV5 یوه لویه ننداره یا شو وبلله۔

اوخلقوته ئې ترغیب ورکوو چې په دغه لویه ننداره کښې خامخا شریک شۍ۔

په مقرره تاریخ دوه ساعته د ننداري پیل کیدو وړاندې زۀ د اوسلو تر ټولو لوئې تالارسپیکټرم ته ورسیدم۔ ډیر تماشبین د وخت نه وړاندې رارسیدلي وو۔ داسې بریښیده لکه چې یوه لویه میله راجوړه شوې وي۔ دا لویه "شو" یا ننداره په مقرر وخت پیل شوه۔ د لاسونو په چق چق او په زړۀ پورې د موسیقۍ د سازونو سره ئې آغاز وکړو۔

دې ننداري ته د ناروے مشهور ډانسر ګروپ او مقبول سندرغاړي رابلل شوي وو۔ ورسره د ناورے دېو سیاسی جماعت

لیډر هم بطورخاص د افتتاح دپاره بلل شوے وو ـ له افتتاح وروستو ددې پروګرام کوربه (انکر)راغلو او میلمنوته ئې رسمي سترې مشي ووئیل۔

وریسي ئې دپروګرام مختصرغوندې تعارف وکړو بیا ئې ووئیل چې د انتظار ګهړۍ ختمې شوې نن په دې پروګرام کښې به د څوخوش قسمتو یا بدقسمتو انسانانو د ژوند د ملګرتیا امتحان وي۔

څلورملئینه کراؤن ډیر لوئې رقم دے خو انساني اخلاق او مورال یعني وجدان او ضمیر هم په هر دوراوزمانه کښې یو کوټلے حقیقت دے۔ او ډیر خلق اوس هم دا مشترکه انساني قدرونه پالي۔

نن مونږ سره دوه انتخاب شوي کسان میلمانهٔ دي۔

مونږ به د دوئ داخلاقي قدرونو جاج اخلو چې څوک په دې معیار او مورال پوره خیژي۔

بیائې د ناروے ځائے پیدائشي وګړي نوم واخستو اوسټیج ته ئې راوبللو۔

میوزک او د لاسونو پړقا په تالار کښې یوسحر انګیزکیفیت پیدا کړو ـ د خلقو زړونه ورسره په درزا شو۔

ددهٔ نوم یوهانjohan وو۔ کیمره هم ددهٔ اودمیرمنې او دوه ګلالو بچوپه مخ وخت په وخت تاویدله ـ د کوهان میرمن او بچي په تالار کښې په مخصوصو چوکو ناست وو هغوي کوهان ته حوصله ورکوله۔

په لوئې سکرین د څلور ملئینو د چیک عکس هم ښکاره



کړے شو اوچې لږ شور تم شو نو بیا ئې غږ وکړو

چې زهٔ اوس یو نارویجن مسلمان راغواړم د چا چې سوچ فکر او د ژوند ژواک طریقې له اروپائی خلقو لږې بدلې دي۔ او د دوئ د اخلاقي مورال یا وجدان پیمانه هم د ناروے د ځائے له وګړو لږه جدا ده۔

زما د نوم اخستو سره سم یو شور راپورته شو مینځ کښې چا غږ وکړو چې کزن میریج، جبري وادهٔ، چا پکښې د اسامه بن لادن نوم هم واخستو ـ مطلب زما زړهٔ ازارول او هوټنګ وو۔

تیز میوزک او د لاسونو په پړقا زهٔ هم د سټیج سر ته راوختم او د نورو میلمنو سره ودریدم ـ

یو ځل ئې بیا په لویه شیشه (سکرین) د څلورو 4 ملئینو چیک عکس وښودلو ـ

دپروګرام کوربه د یوهان نه پوښتنه وکړه چې ستاسو دپاره مونږ د څلورکراؤن نه پیل کوو۔ یوهان ته کولے شې چې فقط څلور کراؤن واخلې او خپلې میرمنې له طلاق ورکړې۔

په تالار کښې ناست ټول خلق په خندا شول۔ یوهان ورته ووئیل چې هغه کس به لیونے وي چې داسې کانې کوي۔

بیا ئې په سکرین د څلور هندسې سره یو صفر ور زیات کړو او ماته مخاطب شو۔

ستا میرمن خوهسې هم وطن ته تلې ده ستاسو دپاره به دا پریکړه (فیصله) مشکل نه وي۔

ته په څلویښت 40 کراؤن خپله میرمن پریښودلې شې؟

ما ورته سر وخوځوو چې نه صیب بیخي نه۔

د پروګرام کوربه د یو بل صفر اضافه وکړه او یوهان ته ئې ووئیل چې ځلور سوه 400کراؤن خو ډیر شے دے ته پرې لس دانې بیئر او په ریستوران کښې د ماښام ډوډۍ(ډنر)خوړلے شې څنګه رضا دې پرې راځې ؟

یوهان ورته ووئیل چې سوال نه پیدا کیږي زۀ د خپلې میرمنې او بچو سره ډیره مینه لرم۔ددې اندازه تۀ نۀ شې کولې۔

دا وخت کیمره د یوهان په کورنۍ راغله۔

د یوهان بچو او میرمنې په زوره زوره لاسونه وپړقول او د میړۀ او پلار په دې خبره ئې فخر محسوس کړو۔

میزبان یو ځل بیا زما په لورې مخ را ستون کړو۔

نواز!ستاسو خواکثرجبري ودونه کیږي آیاستاسو هم په زبردستۍ وادۀ شوے دے۔؟

ماورته ووئیل چې نه صیبه۔زما وادۀ د کور د خلقو په خوښه یعنی ارینج میرج شوے دے۔ او الحمدلله شل کاله مو د وادۀ وشول او تر اوسه پورې خوشحاله او مست یو۔

البته ستاسو د اروپائي ټولنې ودونه خواول عیاشي بیا بچې بغیر نکاح پیداکړي نو نیمائي ئې ودونه وکړي ۔ نیمائي ئې بې وادۀ ګرځي۔په وادۀ شوو کورنیو کښې بیا هم په ناروے کښې د طلاق شرح 55 % سلنه ده۔ چې دا ولې ؟

زماپه ځوابي سوال کوربه وارخطاغوندې شو په تالارکښې ناست تماشبینو هم خپل مینځ کښې پس پس پیل کړل۔

کوربه راته ووئیل چې ددې خبرې ځواب زۀ نشم کولے دا زمونږ د پروګرام سره سمون نه خوري خو تاسو ته ځلور زره 4000



کراؤن درکوم او د خپلې میرمنې نه تیر شه۔

ما ورته بیا سر وخوځوو چې نه صیب نه۔

کوربه بیرته یوهان ته متوجه شو۔

یوهان۔ددې رقم سره به یو صفر بل ورزیات کړو چې قناعت دې پرې وشي۔

په څلو ینښت زره 40000 کراؤن خپله میرمن پریږدې؟۔

یوهان ورته ووئیل چې نه صیب۔

تاسو ته علم نشته چې زماد خپلې میرمنې اوبچو سره څومره مینه ده۔

کوربه زما په لورې راوګرځیدو۔

ماته ګویان شو۔

نواز!

تاسوخو مسلمانان ئۍ۔ستاسو په مذهب کښې ځلور4 ودونه روا دي۔تانه څوک پوښتنه هم نۀ شي کولې۔وطن ته به لاړ شې بله به راولې۔بیا ئې طنزاً ووئیل

خوچې د اسامه بن لادن په شان نۀ وي۔

په دې خبره ټول تالار کښې کوکې او شپیلۍ وهل پیل شول۔

ورسره میوزک هم په زوره درز دروز وغږیدو۔

کوربه میوزک ته د بندیدو اشاره وکړه او تالار ئې خاموش کړو۔

ماته بیا مخاطب شو۔

ښه نو ښاغلیه داسې به وکړو چې یو صفر به بل هم ور زیات کړو۔چې ځلور400000لاکه کراؤن شي۔

په څلور4 لاکه کراؤن خو ته څلور ځواني میرمنې ودولې شې۔

سوچ پرې وکړه ځان له نوے ژوند پیل کړه۔

ما ورته بیا په انکار کښې سر وخوځوو چې قطعاً نه۔

کوربه دڅلور4 لاکه هندسې سره یو اخرنۍ صفر ورزیات کړو۔

دا اوس ئې د څلویښتو لاکه کراؤن چیک په لویه شیشه وپړقوو۔ دا ئې اخري حد وو۔

کوربه د یوهان میرمن او بچی هم سټیج ته راوبلل۔

میرمن ئې چې هیلدا ئې نوم وو خپل خاوند ته ورغاړه وته او په مینه ئې په شونډو ښکل کړویوهان خپل دواړه بچي غیږې ته رانزدې کړل۔

او ماحول ئې بیخی رومینټک غوندې کړو۔

کوربه د یوهان له میرمنې وپوښتل۔

هیلدا که بالفرض ستا خاوند دا 4 ملئینو کراونز چیک واخستو۔

اوپه طلاق نامه ئې لاس لیک وکړو نو ستا به څه عکس العمل وي؟۔

هیلدا ورته اوئیل چې داسې نۀ شي کیدے۔

مونږ په مینه وادۀ کړے دے۔ زمونږ ګلالي بچیان دي۔ زمونږ تر مینځه عهدو پیمان شوے دے۔ دا ناممکنه خبره ده۔

بیاپه میډیا باندې ئې سم د زړۀ غبار تش کړو چې زۀ نۀ پوهیږم چې تاسو ولې داسې یو اړخیز کارونه کوۍ۔



پکارخو دا وه چې د میرمنو سره مو داسې پروګرامونه ترتیبولې چې له هغوئ مو پوښتلے چې د خپل خاوند په حقله پریکړه ئې کولې شوې۔

د پروګرام کوربه ورسره ژمنه وکړه چې په راتلونکیو پروګرامونو کښې به ارو مرو میرمنې هم رادرومي۔اوس تاسو په خپلو چوکیو کښینۍ چې پروګرام سر ته ورسولے شي۔

کوربه دیوهان په سترګو کښې خپلې سترګې ورښخې کړې بیا ورته ګویانه شو۔

یوهان تاسره د تالار نه د رائې اخستو اختیار هم شته او خلق تاسو ته صلاح مشوره درکولې شي۔

سوچ پرې وکړه د خلقو نه صلاح واخله۔

سوال دا دے چې آیا په څلور ملئینه کراؤن کرنسي ته خپلې میرمنې ته طلاق ورکولے شې؟۔

د تالار د یو اړخ نه ځوانانو چغې کړې۔

واخله واخله

د ژوند نه خوندونه واخله۔ ژوند بیا بیا نۀ رادرومي چرته نوې ماډل بلبله ولټوه۔

د تهائي لینډ نه به نوې میرمن راولې میرمنې ډیرې خود څلویښتو لاکهو چانس بیا نۀ ترلاسه کیږي۔

د میرمنو اوجینکو له اړخه کوکې وشوې چې پیسې وانخلې ښې میرمنې په قسمت سړي ته رسیږي ۔خپل کور وران نۀ کړې۔ بچیان به دې در په درشي ۔دسړو خبره باید ونۀ منې۔نر شه چې وجدان او ضمیر دې خرڅ نۀ کړې۔

کوربه بیا ورته ووئیل.

یوهان.

خپل قسمت ستا په لاس کښې دے.

ځلور4 ملئینه کراؤن اخلې که دخپلې میرمنې اوبچو سره تش لاس کور ته ورځې؟.

سوچ پرې وکړه زهٔ ترلسو پورې شمیره کوم.

1-2-3 -4-5-6-7-8-9-او دا ئې 10.

یوهان به کله د ځلور ملئینو چیک ته په کتو شو کله به ئې په خپله میرمن اوبچو نظرواچوو. پریکړه ورته گرانه وه چې څه وکړي . د خلقو گنگوسې زیاتیدلې ناساپې یوهان چیک راواخستو

ورسره جخت په میز پرته د طلاق نامې په کاغذونو ئې لاس لیک وکړواو چیک ئې په جیب کښې کینښودو.

په تالار کښې خاموشي شوه.

خلق بیخي دم بخود شول. د میرمنو له مینځه څو کسانې په ژړا شوې. نه نه غږونه پیل شول.

اوازونه راپورته شول.

حرامي.

ضمیر خرڅه.

سپیه.

مکاره.

ورې سترگیه.

سووره.



د یوهان میرمنې او بچو چې د یوهان دا ناساپې حرکت ولیدو نو اول خو بیخي تعجب ونیول بیا په یو شغ د تالاره ووتل د تیلویزیون کیمرې تر بهر وتلو پورې د دوئ تعاقب نیولے وو.

میرمنو د سټیج په لورې دکاغذونو گولې، چپلکې او د اوبو بوتلونه راخوشی کړل. شور زیات شویوې شیبې له په تالار کښې تیارهٔ جوړه شوه.

او بیا د ډانس گروپ جینکۍ راغلې او یو خوندور میوزک سره ئې رقص پیل کړو.

شیبه وروستو په لویه شیشه یو ځل بیا یو بل د ځلورو ملئینو چیک عکس وښودلے شو.

میوزک بند شو او د ټي وي پینځمTV5 کور به ماته رانزدې شو او بیا تالار او کتونکیو ته گویانه شو چې اوس مونږ سره د پروگرام په دې اخري مرحله کښې یو مسلمان نارویجن ولاړ دے.

د دوئ ټولنیز، کلتوري او مذهبي دودونه زمونږ سره تو پیر لرې

د دوئ د مورال معیار هم بدل دے گورو چې دا ترکومې پریکړې رسیږي.

نواز

4 ځلورملئینه کراؤن په یو وخت کښې گټل ډیر لوئې رقم دے.

ستاسو میرمنې خوهسې هم زیاتره بې علمه دي . ددوئ د جهالت دلاسه نارینه ئې په اورکښې پراتهٔ وي. کار کسب ئې هم نهٔ زده . ټوله ورځ یا جاروگانې وهي یا کپړې جامې وینځې. دومره

اهمیت ئې ستاسو په ژوند کښې نۀ وي۔

وایه! څلور ملئینه کراؤن اخلې که ـــ؟

میرمن دې تاسره موجوده هم نۀ ده۔ وطن ته تلې ده ـ هغې ته به هډو دا خبره في الحال نۀ معلومیږي۔ خپل ژوند ښۀ کول غواړې که نه هم په زوړ ژوند کښې وخت تیرول غواړې؟

وایه څه فیصله دې کړې۔؟د تالار نه صلاح واخله ـ حاضرین هم صلاح درکولې شي۔ خلقو کوکې او شپیلې وهل پیل کړل۔

نارینه ؤ وئیل چې پیسې واخله ـ بله پتاخه راوله ـ مزې چرچې به دې وي۔

چا به وئیل چې بس دے شل کاله یو مخ ته کتل یا کښیناستل د سړي زړۀ موړ کړي۔

بله ښائسته جینۍ دخپلې خوښې به راولې۔پیسې واخله،نوې ژوند پیل کړه۔

میرمنو وئیل چې سړے شه،چې کورواران نۀ کړې ـ تاسو ایشئین خو پخپله کورنۍ ځانونه قربانوۍ۔

تکړه شه چې پیسې ته زړۀ ښۀ نه کړې۔

کوربه شمیره پیل کړه

1۔2۔3۔4۔5۔6۔7۔8۔9او دا ئې 10

هن دا چیک اخلې؟که نۀ ئې اخلې؟

مایونظرپه تالارکښې په ناستوخلقوواچوو،بیامې چیک راپورته کړو، په تالار کښې ګنګوسې پیل شوې۔

یوه کنځله مې تر غوږ شوه۔

ایشئین سور



حرامي

بې وجدانه۔

چیک ته مې په غور وکتل بیامې د جیب نه خپل قلم (مارکر) راوویستو،چیک مې په میز کښېودو،دکراس نشان مې پرې جوړ کړواود کوربه په لوري مې ورشغ کړو۔

ماورته ووئیل چې زما دمیرمنې قیمت د 4 څلورو ملئینو نه زیات دے،کوربه اوخلق یوې شیبې دپاره غلي شول ـ زماپه دماغي صحت ئې شک شو ګویا لکه چې لیونے خو نۀ یم۔په تالار کښې هم ګنګوسې شوې۔

زۀ ترې روانیدم چې کوربه مې مخې ته ودریدو۔لږ وار وکړه چرته ځې۔

تاخو ډیرلوئې رقم په خپله میرمن قربان کړو حالانکې ستا میرمن خوبقول ستا دمور پلار په خوښۍ یعني ارینج میرج وادۀ شوې ده بیا داسې کار دې ولې وکړو ؟

ولې ته ډیر زیات مالداره ئې؟

او د خپلې میرمنې سره بې کچه مینه لرې چې څلور4 میلئینه کراؤن ته دې لګته ورکړه۔

ما ورته ووئیل چې زۀ خو نۀ مالداره یم او نۀ د خپلې میرمنې سره مینه لرم۔

کوربه یوې شیبې له زما په خبره حیران شو بیا ئې تالار ته مخ واړوو۔

چې تاسو واورۍ دا وائي چې زۀ د خپلې میرمنې سره هډو مینه نۀ لرم۔

نو زماپوښتنه دا ده چې تا ولې د څلور و 4 میلئینو کراؤن چیک ارتاؤ کړو؟ خپلې ناخوښې میرمنې ته دې طلاق ولې ورنۀ کړو؟

ما د تالار په لوري وکتل.

خلق زما د جواب په انتظار وو.

ما د ټیلی ویژن کوربه ته ووئیل چې داځکه چې دا زما د مور پلار په خوښه او رضا وادۀ کړې میرمن ده او زما عزت او ناموس دے.

زمامیرمن زمادګلالوبچومور ده د چا دپاره چې زۀ سل کرته مرګ ته هم غاړه ورکولے شم.

(د فیصل نواز چوهدري د قیصې ترجمه)

◈◈◈



## غازي که شهید

کماندان صیب راته ووئیل چې نن تیار شه ماښام به یو روسی کافر جهنم ته لیږو چې ستا هم ثواب وشي.

ما په ډیره مینه او شوق کماندان صیب ته سر وخوځوو.

او زړۀ کښې مې ووئیل چې د جهاد شوق او د دین جذبې خو زۀ تاسو ته رارسولے یم

زما خیال ته د خپلې سیمې د ګوند امیر صیب څهره راغله چاچې زمونږ تربیت په ډیره مینه او مذهبي جذبه کوو.

زماخیال ته دخپل ګوند مشر امیر صیب نوراني څهره بار بار مخې ته راتلله،د چا له برکته چې زما د کالج سبق او ماحول هم زما د دین او مذهب سره مینه او جذبه توده کلکه او پخه کړې وه

امیر صیب زۀ هم زما د نورو ملګرو په خیر جهادي جبهې ته رالیږلے وم،د جبهې مرکزي کماندان صیب زۀ د ددغه اولسوالۍ کماندان صیب ته په خپله مشفقه ولقه کښې ورکړے وم،او تاکیدئې هم ورته کړے وو چې مجاهددسختو او مشکلو کارونو

سره بلد نۀ دے باید نرمي ورسره مراعت کړي.

مازیگر مو د کماندان صیب په امامت کښې مانځه وکړو. د مانځه وروستو کماندان صیب دوه نور کسان هم دځان سره کړل ما هم خپل ټوپک ته لاس کړو او کماندان صیب مخکښې او مونږ ورپسې د خپل پناه گاه څخه راووتلو.

څه کم یو گهینټه پس مونږ د غرۀ د مینځ نه د یوې درې خلې ته راکوز شو د لارې په غاړه په یو ځائے کښې په بوټو کښې پټ کښیناستو.

داسې معلومیده لکه چې کماندان صیب د مخکښې نه دا ځائے په نښه کړے وو.

ددغه درې لاره نیغه د یو وړوکي غوندې کلي په لوري تلې وه، کوم اړخ ته چې کماندان صیب اشاره وکړه د دغه پاس کلي یو کافر بدبخته معلم نن کور ته رادرومي. په ښوونځي کښې ئې ټول ماشومان ملحدان کړل.

د ملحد رجیم مرستیال او پلوي هم دے ،د روسانو په حق کښې تبلیغات کوي، څو ځله مو کسان ورلیږلي دي خو نۀ سمیږي او د کفراو الحاد لۀ تبلیغاتو هم نۀ منع کیږي

میلمه نن به ته خپل ایمان تازه کوې.

د جهاد دپاره به دې تمرین وشي او وروستو مخکښې ټول گناهونه به دې هم نن ورژیږي.

ما ورته په زړۀ لاس کیښودو چې هم دغه شوق د لاسه خو زۀ خپل امیر صیب تاسو ته رالیږلے یم.

ما چې داخبرې کولې نو کماندان صیب هم په تائید کښې سر



وخوځوو سترگې ئې مخامخ د لارې ښي اړخ ته نیولې وې

په دې کښې امیر صیب په خله لاس کیښودو او مونږ ته ئې ووئیل چې سرونه ټیټ کړی، ملحد راروان دے

مونږ د بوټو شا ته ساه راکښلې غلی غوندې شو ،

کماندان صیب ما ته اشاره وکړه چې رامخکښې شه مجاهده زۀ په ناسته ناسته یو قدم مخکښې وښوئیدم او د امیر صیب سره برابر کښیناستم

هغه وینې؟ امیر صیب ښی اړخ ته د گوتې اشاره وکړه.

ما ولیدل چې یو د لوړ قد سړے تیز تیز په لار راروان دے په سر ئې خولۍ او په اوږه ئې څادر اچولے وو

د سړي په مخ لنډه غوندې ږیره هم وه په یو لاس کښې ئې څه د سامان گوتۍ غوندې هم ښکاریده.

دغه وخت که هر څو هم د مازیگر نمر په غرغرو وو ،او اوږدۀ اوږدۀ سیورې راخوارۀ وو ،خو دغه کس ښۀ سم څرگند ښکاریدو چاخ چاخ قدمونه ئې اخستلِ زمونږ په لوري راروان وو.

چې کله دیرش څلوېښت قدمه نزدې راغلو نو کماندان صیب زما مخ ته وکتل او چې زما سترگې ورسره څلور شوې نو هغۀ خپله سترگه نیمائي چپه کړه او سر ئې نیم کږو وخوځووِ.

مادټوپک نالۍ ورنیغه کړه اوپه شیش کښې مې واخستو . په ماشه مې گوته ټینگه کړه.ډز شو.

د ډز سره ما داسې محسوسه کړه چې گویا په دې دره کښې د ټوپک ډز نۀ وي چرته د توپې گولۍ چاودلې شوې وي.

سړے نیم کږو غوندې شو په سینه ئې لاس کیښودو او په

مزه غوندې په لویه لاره وغزیدو.

کماندان صیب په ملا ټپ راکړو او سم دست ئې د الله اکبر نعره ووهله او د خپله ځایه اوچت شو.

زهٔ او نور ملګري هم په کماندان صیب پسې د ویشتلي سړي په لوري ور روان شو.

چې کله د سړي سر ته ورسیدو نو دغه کس چې امیر صیب معلم بدبخت ملحد او څه څه یاد کړي وو په زوره زوره أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ کلیمه وئیله .ما چې د سړي مخ ته وکتل نو عین خپلې غټې غټې سترګې ئې زما په لوري رانیغې کړې او زما په سترګو کښې لکه چې ښخې کړې.او په ډیر اطمینان ئې خپله ئې ګوته پورته کړه او یو ځل ئې بیا د شهادت کلیمه ووئیله .دغه وخت کماندان صیب له لکه چې غصه ورغله ،خپل ټوپک ئې ورته په سرکیښودو دوه ډزه ئې پخپله هم وویشتو

ورته ئې کنځل وکړل چې ملحده زمونږ دډاره اوس کلیمې دریادې شوې ؟

سړے معمولي غوندې وخوزیدو او سم د مخې مړشو.

کماندان صیب ئې په لاس پورې تړلے ساعت (ګهړۍ) او دجیب سامان زر زر راوباسلو او مونږ ته ئې غږکړو چې ښه شوه چې مردار شو، جهنم ته ورسیدو ځۍ چې نور ځو.

مونږ یو ځل بیرته د غرهٔ د سر په لوري په ختو شو.

زهٔ په دې واقعه ډیر پښیمان غوندې شوم ما وئیل چې دا کوم کار مونږ د دین او کلیمې د پاره وکړو هغه کس خو هم دغه



کلیمه وئیله چې دا ولې؟

چې کله خپل ځائے ته ورسیدو نو زهٔ ډیر زیات غمجن ووم کماندان راته ووئیل چې ولې مجاهده په څه شي دومره خفه ئې؟

خیر دے په اول اول کښې سړے هم داسې حساسوي بیا وروستو بلد شي.

ما ورته ووئیل چې کماندان صیب هغه سړي خو د شهادت کلیمه وئیله!!!

هغهٔ ووئیل چې دا د روبلو اخستلو والا به څه وي او د هغوئ کلیمې به څه وي!!!

د مجاهدینو مخالف وو ،دقام دښمن وو.چرت مه وهه ښه شوه چې جهنم ته مو ورسوو.

کماندان صیب دکښیناستو سره ددغه مړي دګوتۍ تلاشي وکړه، دکورسامان،تیل صابن،بیسکټ اودماشومانو دپاره دوه د دیني سبق قاعدې او دقران پاک دوه وړومبنۍ سیپارې هم وې.

زما زړهٔ وجدان په دې قتل ډیرسخت پښیمانه او ستومانه وو او بیخي شپه او ورځ مې د هغه سړي څهره مخې مخې ته کیدله او په مازغو کښې مې د هغهٔ د شهادت د کلیمې تکرار او ازانګې کړنګیدلې

څوورځې پس زهٔ په څه بهانه خپل وطن ته راستون شوم نیغ د خپل ګوندامیر ته لاړم اجازت مې وغوښتواو چې مکتب ته ورننوتم نو ما امیر صبب ته ټوله قیصه تیره کړه او د هغهٔ ځواب ته متوجه شوم

امیر صیب مسکے شو،او زما په خبره ناغرضه غوندې شو خو چې کله مې ورته بیا په سنجیدګۍ او سنجیدګۍ سره د خپل

ضمیر او وجدان د بې اطمینانۍاظهار وکړو او ډیر په ناقرارۍ مې ترې وپوښتل چې امیر صیب په دغه قتل مقاتله کښې ما ته زما مقام او حیثیت وښایه چې ماکوم کس د کلیمې او مذهب د خاطره ووژلوهغه هم دغه کلیمه وئیله او ماته خوصحیح او پوخ مسلمان معلومیدو،اوس ماته خپل او دهغه مسلمان حثیت وښایه چې په دې کار زهٔ څه شے شوم او د هغه مړ څه حیثیت شو؟

امیر صیب ډېر په بې نیازۍ سره وفرمائیل چې

"تهٔ غازي شوې او هغه شهید شو""

◈◈◈



# پینزیب

جمیل د مور نیازبین یوازینے فرمان بردار بچے وو.

د خپل کلي پهٔ سکول کښې ئې ترځلورم جماعت پورې سبق وئیلے وو د وړاندې علم حصول ئې نیمګړې پاتې شول.

ځکه چې په کلي کښې ئې تر دې د لوړو زدکړو سکول نهٔ وو او د نورو لوړو زد کړو ځائے ترې ډېر لرې وو.

یوخوا ئې مور یوازې پرېښودلې نهٔ شوه بل د مور عاجزې ئې وس هم نه کیدوچې دجمیل پهٔ ښار کښې دسکول اودهغه د استوګنې اخراجات برداشت کړي.

بس جمیل پهٔ دې خوشحال وو چې د یو ځائے به مور او ځوئے پتو ته تلل او د مور سره به ئې پهٔ کارکښې لاس امداد کوو.

د جمیل مور ډېره د حیا عزت باهمته ښځه وه هغې د جمیل د پلار دمرګ وروستو بل چا سره وادهٔ ونهٔ کړو او دغه ایکي یو ځوي پورې ئې سر سپین کړو.

پهٔ خپلو پټو کښې به ئې لکه د زمیندارو سخت محنت کوو خو چاته ئې لاس نهٔ وو نیولے.

پهٔ خپله برخه ئې صبر وو پهٔ دې وجه ئې پهٔ خپلو خلقو او خاندان کښې د عزت مقام موندلے وو.

جمیل چې لږ لوئې شو او ډیره بربت ئې شنهٔ شو نو مور ئې پهٔ خپلو خپلوانو کښې دجینۍ دپاره خبره خوره کړه.

د جميل مور چې کوم کور ته هم لاړه د کور مشر ورته ووئيل چې ستا همت ته زمونږ سلام دے ستابچے زمونږ بچے دے او پۀ کومه جينۍ چې ګوتې کيږدې تاته به څوک نا نۀ کوي.

د ډېرو مشورو اوليدلوکتلو وروستو د جميل مور يوه ډېره ښکلې جينۍ خپل نيازبين بچي له خوښه کړه.

او پۀ مياشت کښې دننه دننه د جميل وادۀ پۀ سادګۍ سره وشو.

زيباواقعي چې ډېره ښکلې پوهه او سنجيده جينۍ وه۔ هغې د خپل تقديرفيصله پۀ خوشحالي قبوله کړه.او دراتلوسره ئې خپلې ذمه وارۍ وپېژندې ـ د کور کارونو د خاوند او خواښې خدمت ئې لکه د عبادت پۀ شان کول پيل کړل.

پۀ لږه موده کښې زيبا دجميل اوخپلې خواښې زړونه وګټل۔ جميل او مور ئې پۀ خپل انتخاب ډېر نازيدل.

جميل او مور به هر وخت د الله شکر ادا کولو،چې خدا ے ورته دسپوږمۍ پۀ شان ښائسته او پۀ اخلاقو او د کور پۀ کارونو پوهه ښځه او اينګور ورکړې ده.

د دواړو به دا کوشش وو چې داسې ددنيا خوشحالۍ راوړي او د زيبا د زړۀ د خوشحالولو د پاره ئې د هغې پۀ جولۍ کښې واچوي.

الله پاک پۀ دې کور ډېره پېرزوئينه کړې وه. ددې کور هر فرد د خدائے تعالٰی پۀ مهربانۍ او پېرزوئينه د خپل رب شکر ګزار وو.

جميل به غوښتل چې خپلې ناوې او بوډۍ مورته هغه هر هغه



شے راوړي پۀ کومه چې دوئ خوشحاليږي خوځينې وخت به سوچ واخستو چې که لږ ډېر وسائل مې پۀ لاس کښې وو نو دا او دا کارونه به مې کړي وو۔

دوه درې مياشتې داسې په خوشحالۍ تېرې شوې، چې دوئ هډو پرې پوهه نۀ شول. خو اوس د جميل سره دا فکر شو چې ځوانان خدا ے د کار دپاره پيدا کړي دي د خپل پټي نه ئې دومره امدن نۀ وو چې د زړۀ ارمانونه ئې پرې رژولی وو.

هغه د کلي د ځوانانو سره د ښار پۀ لور د تلو او هلته د ټيکه دار سره دسړک پۀ کارکښې دوه درې مياشتې کارکولوته پۀ زړۀ کښې اراده لرله.

خو مور ورته مخکښې هم اجازت نۀ ورکولو او دا ځل ئې هم يره وه چې مور به راله اجازت رانۀ کړي.

جميل هوښيارهلک وو. هغه اول خپلې ناوې سره خبره وکړه.

چې زيبادکورډېرکارونه نيمګړي دي.ددې پوره کولو دپاره خامخا پيسې پکار دي.د پټو کار کښې دومره امدن نشته زما زړۀ غواړي چې ستا د پاره ښائسته ډولې او د سينګار ساز و سامان هم راوړم او د کور نيمګړتياوې به هم پرې پوره کړم.مور مې هم د ډېرو کارونو توان اوس نۀ لري که ستا اجازت وي نو د کلي نور هلکان هم ښار سره نزدې د سړک جوړېدو کار له ځي.

ټيکه دارهم دکلي د خلقو پېژندګلو سړے دے دوه درې مياشتې کاربه وکړم او بيا به که خېر وي راشم. زيبا لږه شيبه سوچ واخسته د هغې زړۀ نۀ کيدو چې جميل نه جدا شي خو د کور مجبوريانې هم ورته معلومې وې نوهغې ورته ووئيل چې که

زۀ دي ایساروم نو خلق به راپورې خندا کوي.

زما له اړخه هیڅ بندیز نشته البته مور بي بي زمونږ د کور مشره ده د هغې نه اجازت وغواړه چې د مشرانو پۀ مشوره کښې خېر و برکت وي ـ جمیل ورته ووئیل چې دمور اجازت نه بغېر زۀ چرته تلے شم زیبا.

زما دالله آسره ده او هم دغه مور ده اوس شکر دے ستا ملګرتیا مې هم خدا ے نصیب کړه.

په سحر جمیل د مور سره د ښار د تللو خبره پیل کړه ـ زیبا ئې هم په خوا کښې ولاړه وه ـ

جمیل به زیبا ته هم کتل او مور ته ئې هم په ډاډه زړۀ خبره نۀ شوه کولے خواخر ئې هم ورته د خپل تګ خواهش ظاهر کړو.

مورئې په سړه سینه دجمیل خبرې واورېدې او بیائې ورته ووئیل ـ

جمیله که زۀ او تۀ یوازې وې نو ما به درله اجازت نه درکوو خو اوس شکر دے زمونږ کور کښې زما ښائسته بچې زیبا هم ده ـمونږ ټول به په شریکه صلاح مشوره کارونه او فیصلې کوو که زیبا بچې نۀ خفه کیږي او د هغې اجازت وي نوخیر دے لاړ شه خو بچے زما او زیبا اوس د خدا ے نه پس ایکي یوازې هم ستا اسره ده ـ

بس ډیر اختیاط به کوې ـ چې چا سره هم جنګ جهګړې ونۀ کړې.

جمیل ته خپلې مور اجازت ورکړے وو هغه اوس د سفر تیاري شروع کړه ـدوه ورځې پس د کلي د نورو ځوانانو سره د



ښار په لورې روان شو

ماښام د ښار سره نزدې د ټیکه دار ځائے ته ټول ملګري ورسیدل.

ټیکه دار د سړک نه لرې اخوا خېمې لګولې وې.

ټول ملګري مزدوران به دسحر نه تر تېر مازیګره دسړک د جوړیدو کارونه

کول ـ ټیکه دار به ورله خرڅ خوراکې له جمعه په جمعه څه لږې ډیرې پیسې ورکولې.د جمعې په ورځ به د کار چهټې وه.

مزدورانو به ځان له جامې زړوکې ووینځل مازیګر به د ملګرو سره نزدې بازارګوټې ته لاړل هلته به ئې ځان له سودا واخسته چا به ځان له حجامت او ویښتۀ برابر کړل چا به ځان له لږ ډیر سامانونه هم راغونډکړل اوپه دیره کښې به ئې په غوټو بیګونو کښې ځائے په ځائے کړل.

جمیل هم چې دکوره راوتلے وو هم دغه د ملګرو ئې چې کوم معمول وو.هم هغه معمول ئې خپل کړے وو.

موراو زیبا له به ئې جوړې جامې پیزار هم اخستل او په خپل بیګ کښې به ئې اېښودل.

د ژوندمعمول ئې روان وو. دجمیل او ملګرو ئې درې میاشتې شوې وې دکلي نه نوي هلکان هم راغلي وو د جمیل هم خپله مور او زیبا ډیرې یادې شوې وې.جمیل د زیبا سره د درې میاشتو خبره کړې وه نو د هغۀ نه هم نور صبر نۀ کیدلو.

جمیل او درې څلور ملګرو ئې د ټیکه دار سره خبره وکړه چې که د هغۀ خوښه وي نو دوئ به کلي ته لاړشي میاشت نیمه پس به

بیرته راشي۔

ټیکه دار ورته په خوشحالۍ اجازت ورکړو په سبا ئې ورته ټولې پیسې هم ورکړې۔

جمیل دملګرو سره بازار ته لاړو او د کور دپاره ئې باقي سامان هم واخستو خو جمیل چې د زړهٔ په مینه کوم څیز ته لیواله وو هغه د زیبا دښائسته پښو د پاره پینزیب وو۔

جمیل ډیر په مینه د زرګر د دکان نه یو ښائسته پینزیب واخستو ۔ هغه په دې سودا دومره خوشحاله وو لکه چې د عمرونو ارمانونه ئې رژیدلي وي۔

مور هم د راتګ په وخت ورته په غوږ کښې وئیلي وو ۔

چې بچے که وس دې وشو د ناوې د پاره یو ښکلے پینزیب راوړه۔

او نن جمیل دخپلې او مور د خوښې په څیز برلاسه شوے وو۔

ماښام ټول ملګري خپلو خیمو ته راغونډ شوي وو ټولو خپل خپل سامانونه راغونډ کړي وو د ملګرو غوټې ئې هم په خپلو بیګونو کښې سنبال کړې وې۔

سحرد وخته د اډې نه د کلي په لور تلونکي بس کښې کښیناستل او تېرمازیګر دکلي سره نزدې تېر شوي روډ باندې ترې کوز شول۔ جمیل او ملګري ئې د خپلو غوټوسامانونو سره د کلي په لور چاخ چاخ روان شول ۔کلے ډیر لرې نهٔ وو۔ تقریباً نیم ساعت مزل نه وروستو چې کلے ته بیخي نزدې شول نو د کورونو بهر لوبې کوونکي ماشومانو ولیدل۔



چې دا خو هغه د کلي تلونکي مسافر راغلل۔

هغوئ زر زر خپلوکورونو ته منډې کړې اومیندې خویندې پلاران او ترونه ئې خبر کړل۔

د کلي خلق ټول په یو غږ راووتل۔ ټول خپلو بچو ته ورترغاړه وتل۔ سامانونه ئې ترې واخستل او شکر چې په خیر راغلې بچیه او وروره ورارهٔ غږونه اخوا دیخوا اوریدل شول۔

د کلي خلقو د جمیل سره هم سترې مشي وکړل هر کس به د تپوس پوښتنې وروستو ترې د خپل کور په لوري روان شو

جمیل خفه او پریشانه غوندې شو۔ هغهٔ دا طمع ساتله چې که زیبا نهٔ وي نو مور خو به خامخا زما سترې مه شي ته تر ټولو وړاندې راوتله خو چې څه وجه کیدلے شي۔

بیا ئې زړهٔ راټینګ کړو چې کیدے شي مور مې زیبا پلار کره بوتلې وي۔

څکه چې مونږ خو د راتلو خبر چاله هم ورکړے نهٔ وو۔

په دې ډاډ هغه چاخ چاخ د خپل کور دروازې په لوري لاړو ۔

دروازې له ئې زور ورکړو نو دروازه خلاصه وه ۔ او جمیل چې څنګه د ور تنبه لرې کړه نو د دروازې سره شاته ئې مور ولاړه وه ۔

مورئې ترغاړه ویستو ۔ په دواړه مخه ئې ښکل کړو۔ او دلاسه ئې ونیوو او نیغ ئې په برنډه کښې په پروت کټ کښې کښینوو۔

مور ورله زر زر اوبهٔ راواخستې ۔ جمیل ته ماحول بدرنګ بدرنګ بریښیدوخو بیا ئې سوچ وکړو چې کیدے شي زیبا له شرمه د کوټې نه بهر نهٔ راوځي۔

جمیل د مور نه د کور پوښتنې کولې او مور ورته جوابونه ورکول۔ بیا جمیل زر زر خپل بیګ پرانستلو او مور ته ئې ټول سامان رابهر کړو۔ مور ته ئې یو یو شے ښئیلو۔

مورې

دا ستا جامې دا ستا پیزار او دا د هغې۔

بیایوښائیسته ډبے ئې خلاص کړواومورته ئې دزیبا دپاره راوړلے پینزیب په لاس کښې ورکړو۔

مورئې چې پینزیب ولیدو نو په سترګو کښې ئې د اوښکو یو چمک راښکاره شو۔ جمیل په زړهٔ کښې ووئیل چې کیدے شي دا دخوشحالۍ اوښکې وي۔ بیا ئې زړهٔ صبر نهٔ شو او د کوټې طرف ته ئې مخ واړوو او غږ ئې وکړو چې زیبا راشه کنه چې مور درته څه شے وښائي۔

د کوټې نه څه جواب یا غږ مږ رانغلو نو جمیل په ډیرې بې صبرۍ پینزیب په لاس خپلې کوټې طرف ته د تلو هڅه کوله خو د مور نه شرمیدلو نو مور ئې په مینه د مټ راونیوه او دواړه د کوټې په لورې روان شول۔

مور ئې جمیل د ځان نه وړاندې کړو۔

جمیل چې ځنګه په درشل ورننوتو مخامخ ئې زیبا په کټ کښې ملاسته ولیده چې ټوله په بړستن کښې انغښتې پرته وه۔

جمیل پرې اواز وکړو

زیبا تهٔ دلته پټه ئې دا وګوره څومره ښکلے پینزیب مې درته راوړے دے۔

د جمیل د خلې دا خبره وتل وو چې د شا د لورې ئې مور



کریکه ووهله۔

جمیل د مور طرف ته بد حواسه راتاؤ شو او په زوره ئې مور ته چغه کړه چې څه وشول مورې

مور ئې هم هغسې په کوکو وه اخر ئې جمیل ترغاړه ویستو په ژړا ژړا کښې ئې جمیل ته ووئیل

بچیه

ته مو نهٔ خبرولې۔

زیبادوه اوونۍ وړاندې په هسپتال کښې شوې چاؤدنه کښې سخته ژوبل شوې ده او ډاکټرانو دواړه پښې ترې پرې کړې دي۔

◈◈◈

# منافقت

د ښار په مشهوره شاهراه د امریکې په ضد لاریون پيل شوے وو.

ددې لاریون یا ریلۍ نوم منتظمینو امریکه مرده باد اینښے وو او په دې کښې شریکیدل ئې یوه مذهبي فریضه ګڼلې وه.

خلقو په لاسونو کښې کتبې او لوئې لوئې بینرې نیولې وې.

ځائے په ځائے ئې شعارونه او د زنده باد مرده باد نعرې راپورته کیدلې.

په دې ریلۍ کښې په داسې موقع د لوټ مارو ډله هم په خپل شغل کښې مصروفه وه.

او د شر او فساد ډک فسادیان هم په پردو او حکومتي املاکو لکه د ملخانو ورخوشي وو.

او هر طرف لوټ شوکه ماري او ورانکاري روانه وه.

په دې لویه شاهراه چې چاریړه لیدله هغوي ریړه په بله اړوله چې چا ګاډے موټر سائیکلې یا د دوکانونو شیشې لیدلې هغه به ئې دلرګواواوسپنې په ډنډو او راډونو وهلې او په کاڼو ئې ویشتلې.

دا د دوئ لویه کامیابي وه.

تردې چې سرکاري د اوبو نلکې او د سړک په غاړه ولاړې



ونې ئې هم نه پریښودې.

ځکه چې د دوئ په فکر هم دغه د لاریون مطلب وو.

ریلۍ د امریکې خلاف وه او رکشې ویګنې ټانګې دوکانونه بلډینګونه ئې د خپل وطن او ورور نیست و نابودول د دوئې لوئې مقصد وو.

او لاره تړل او خلق تر خپلو مکتبونو او کورونو پورې تللو ته نۀ پریښودل د دوي په نزد د ثواب کار وو.

چې کله د فسادیانو په دې هم زړۀ یخ نۀ شو او د لیډرانو په لمسه د پولیسو او امنیتي ځواکونو سره په انخته شول نو خبره تر ډزو ورسیده.

وینه پکښې توئې شوه.

خلق پکښې ټپیان شول.

په لاوډسپیکرو بیانونه تیز شول په جماعتونو کښې اعلانونه هم وشول.

چې ډیر ظلم وشو. لیډرانو ورله د کربلا د ظلم مماثلت ورکړو.

ډیرزیات اخ و ډب وشوـوینې توئې شوې املاکو ته اور ورته کړے شو.

چاچې په قرضه قسطونو او د ښځو اوبچو په کالو او دپولې پټې په خرخولو ځان له رکشه ټانګه ویګن سوزکے اخستی وو هغه په دې مقدسه ریلۍ یا لاریون کښې وسوزیدل.

ماښام ټولې دنیاپه ټیلیویژن ولیدل چې ددې لاریون یا ریلۍ حمایتیانو او دپارټو د اولې درجې لیډر شپ په واز کومي

د حکومت او پولیسو مداخلت او مخه نیول لوئې ظلم وګرځولو۔
او په سختو الفاظو ئې غندنه وکړه۔
تر دې چې د بدل اخستو دړکه ئې هم وکړه۔
په ټیلیویژن د یو لیډر نه چې د ټیلیویژن کوربه دا وپوښتل چې محترمه تاسو دا ریلۍ چې د چا په ضد راویستلې وه د هغې خو امریکې ته هیڅ تاوان نۀ دے رسیدلے برعکس ددې خپل د وطن خلقو ته زیان رسیدلے دے د دې څوک ذمه وار دي۔؟
لیډر په ډیره لاس راکښلو او وې وئیل چې ددې ذمه وار حکومت او پولیس دے۔
دوئ ولې زمونږ د پرامن اوآئیني لاریون مخه نیوله او زمونږ په ائینی او قانوني احتجاجي لاریون ئې لکه د کربلا د مظلومانو په څیر یرغل وکړو۔
د ټیلیویژن کوربه ورته ووئیل چې
په دې ریلۍ کښې برخه اخستونکی زخمیانو ته چې کوم ایمبولینس ودریدل او دا ټول زخمیان ئې په وخت نزدې هسپتالونو ته ورسول په هغې ئې غټ غټ لیکلي وو
یو ایس ایډ ایمبولینس او دغه ایمبولینسونو چې هم دغه د مغربي او امریکنیانو این جی اوز مؤسسو،د بې سرحده ډاکټرانو لکه د ا ئي سي آر سي او انټرنشنل ریډکراس روغتونونو له هم دغه ټپیان ورسؤل۔
بیا دلته هم دغه مؤسسې او ټولو اسیائي او افریقائي هیوادونو کښې د ضرورتمندو مرسته کوي۔
تاسو دې کار ته په کوم نظر ګورۍ۔؟



لیډر صیب ورته وفرمائیل چې دا زمونږ حق دے دا به دوئ مونږ له راکوي چې زمونږ ټول وسائیل ئې قبضه کړي دي۔
نوچې دا ستاسوحق دے او دوئ ئې درکوي هم بیا د احتجاج او لاریونونو څه جواز جوړیږي
ځکه چې دا اکثر په خپلو زیانونو تماميږي
د کوربه ددې سوال په جواب کښې لیډر صیب وفرمائیل
چې داچې وخت په وخت و نۀ شي بیا دا مترقي هیوادونه نور هم زیاتي خوارۀ او استحصالي کیږي۔
دا د دوئ د پام لرنې د پاره ضروري وي۔
او که لږ ډیر تاوان کیږي نو تا اوریدلي نه دي چې په وادۀ کښې بنګړي ماتیږي۔

## د نفس کاږهٔ مخونه

ژباړه

هغه خپله ډوډی په ډیر خوند خوند خوړله
مخامخ ورته ځوانه سوالګره ولاړه وه۔
هغهٔ ته ئې په وړو وړو سترګو کتل.
هغهٔ شخوند ورو غوندې کړو او ورته ئې ووئیل!
ما سره ځې؟
سوالګرې ورته په ډیرکمزوري او نری غږ ووئیل
اول ډوډی راکړه
ډیره اوږې یم.

## افسانچه نمبر 2

ژباړه

په یو ځنګل کښې یو فقیر اوسیدویوه ورځ په دغه ځنګل پرې یوه سوالګرې هم راپیښه شوه
هلته اوس لوئې کلے اباد دے



**افسانچه 3**

## ګلوبل ویلیج..

ژباړه

وروره څه چل دے نن خو ډیر خوشحاله ئې
هاهاها
زما خو وادهٔ وشو کنه
ښه ښه مبارک شه
اوس ایله سم کار وشو کنه ته پی ایچ ډي ډاکټر ئې
او ښځه دې هم د روغتون ډاکټره ده۔
ستاسو خو به ډیر په خوند رنګ ژوند تیریږي چې دوه ډاکټران سره یو ځائے شي.
وادهٔ دې په خپلوانو کښې وشو که؟
نه یره ښځه مې د پیښور ده .
ښه ښه
ښځه دې ځان سره راوستلې ده کنه؟
نه کنه
وادهٔ مو پیښور کښې وشو خو هغه کینیډا ته خپل کار (جاب)ته واپس لاړه او زهٔ دغه دے لندن ته راغلم

ښه ښه

بيا خو به ته هم ورپسې کينيږا ته لاړ شې.سمه ده هلته خو نسلي تعصب هم نشته

او خلق ئې هم ښهٔ دي ژوند به مو په قرار تير شي

نه وروره

مونږ د باقي ژوند دپاره استريليا ته تلل غواړو د هغې ځائے دپاره مو تياري نيولې ده۔

◈◈◈



**افسانچه 4**

ژباړه:

هر طرف وير ژړا ،کوکې فرياد ،زړهٔ لړزونکے په وينو سور منظر،د سنيانو په جماعت کښې د شا نه د کلاشنکوف ضربې او بيا يو قطار د مړو او د زخميانو چغې او غوغا

ورسره په څو قدمه کښې د شيعه ګانو په امام باړه کښې هم په دغه وخت د بمي بريد وروستو سرې لمبې راپورته شوې په لمبو کښې د مړو د غوښو د سوزيدو بوئ راتلو

اول کوکې بيا څو شيبې وروستو چغې نعرې او ژړا

کوکې بيا نعرې

الله اکبر

په جماعت کښې هم نعرې الله اکبرالله اکبر الله اکبر

يو سړے د دوئ له مينځه بهر ته په منډه شو

يقيناً چې پوليس،يا د اور مړ کولو دپاره د اوبوګا ډے (فائير بريګيډ) يا بل چا نه د امداد د پاره په منډو منډو ووتو .

خو ما په شک کښې راونيوو

خلقو منډې وهلې هر څوک د ځان په وير وو۔

په سر مې ورته تماچه کيښوده

رښتيا رښتيا وايه ته د چا سړے ئې او چا له کار کوې؟

هغه زما په پښو وغورزيدو او د خدا ے قسم ئې وخوړو چې د هيچا هم نهٔ يم،او نهٔ چا له کار کوم د سر ساتلو په خاطر په

تیښته راووتم.

" شیعه ئې که سنی ؟

په دې سوال هغه کنفیوز شو - یرې واخستو چې اوس څه ووایم-

"هغهٔ ووئیل چې نهٔ شیعه یم نهٔ سني " صرف مسلمان یم..

ما ورته ووئیل چې دا څه وائې بې مذهبه!!!

په شیعه سني کښې یو څنګه نهٔ ئې..مطلب دا چې کافر ئې؟

رښتیا وائې که د سر مازغهٔ دې وشیندم؟

. زر شه ..

زما دې په الله سوګند وي چې زهٔ د یوې ډلې هم نهٔ یم بس مسلمان یم او په اللهؒ ،رسولﷺ او اخرت مې یقین دے.

ما پوره درې ډزه وویشتو ځکه چې ما سره وخت نهٔ وو چې ددهٔ فضول فریادونه او دلیلونه مې اوریدلے..

ما ته استاذ وئیلي وو چې څوک مذهب نهٔ مني هغه مسلمان نهٔ شي کیدے